لیونی

حبیب اللہ زړہ سواند

د افغان ژوندون دلیکوالو د اتحادیې د خپرونو څخه
۴۵

لیونی

د

حبیب الله زړه سواند

د لنډو کیسو لومړی مجموعه

۱۳۶۴

PROPERTY OF ACKU 4568

کتاب : لیونی
لیکوال : حبیب‌الله زړه سواند
د.ا.د.ج، دلیکوالو داتحادیی‌له‌خوا
دچاپ ځـای دولتی مطبعـه(مونو تایپ)
تیراژ پنځه زره ټوکه
دپښتنی خطاط هادی فهیم
دچاپ نیټه ۱۳٦٤کال(حمل)

د کیسو فهرست

۱ـ چوپتیا

۲ـ گلرنگه

۳ـ خلور بنی

٤ـ دښوونځی ار مانجن

٥ـ لومړنی تنخا

٦ـ لیونی

۷ـ سپیره

۸ـ لوګری

۹ـ ځیـل

۱۰ـ وروستی سلګی

۱۱ـ په‌کیږدی کی

سریزه

په اوسنی وخت کې ساینس او تکنالوجی د انسان مادی ارخ یوځه غنی او تکمیل کړی دی مګر معنوی ارخ یې چې د ادب او هنر وظیفـه ده لا نیګمړی دی او همداوجه ده چې ژوند او وخت لیکوال اوهنرمند ته غږ کوي چې د انسان دا معنوي ارخ هم غني او تکمیل کړی او په دې لار کې سریع او محکم ګامونه واخلی څو د انسان ټولی خوا وی پوره شی .

قصه چې د ادب یو ښاخ دی همداسی چټکو ګامونوته ضرورت لری او دا د ځوانو لیکوالو مسولیت دي

چې په دې ساحه کې نیمګړې تیاوې ژر پوره کاندې او خلا ډکه کړي .

ژوند تولد پیښونه ډک دی اودهرې پیښې بیان اوترسیم دا یوه قصه ده ، مونږ دوسره پوهیږو چې دانساني ټولنې دتشکیل سره یو ځای ادب منځ ته راغلی دی او قصه د ادب یوه غوره بیلګه ده ، قصه د ابتدایي ټولنو نه پیل او تر نن پورې په مختلفو شکلونو رسیدلی ده .

هوا په دغومرحلو کې د پرې قصې ، روایتونه ، حوادث او پدیدې له منځه تللې اوهیرې شوې دي مګر ځینې او مشاهیر یې لږ شفاهاً او کتبیاً تر مونږ پورې رارسیدلې دي او را تلونکو نسلونه به هم د اوسنۍ عصر دبار زو قصو سره یو ځای ور ورسیږي

قصه دپند ، عبرت اوتبلیغ له حیثه د ادب ګټوره برخه تشکیلوي اوپه جامعه کې یې خدمت سرته رسولی دی اوهمداوجه ده چې ادب پوهان نو د جامعې دپاره د قصې لیکلو ضرورت حس کړی دی ، واقعي قصه دا نه ده چې پیر-یانو ، دیوانو ، پا پیریانو او پاچاهانو خواته دانسان فکر واړوي ، دااساطیر دي بلکې قصه هغه ده چې دانسان فکر انسان ته واړوي دحقیقتو نو ترجمانې و کړي هغه

تفسیر کړي او ورځنی ژوند داسی وښئی لکه څنګه چې دی .

دنورو جوامعو غوندې په پښتنی ټولنه کی هم قصه اوږده سابقه او لرغونی عنعنه لری او په مختلف ډول راغلی ده ، دلته به یده نه وي که په پښتو کی د قصو په سابقه باندی یو عمومی نظر واچو واو قصه په په عام مفهوم واخلو .

د پښتو ادب پوهانو په عقیده قصه د یو مستقل شعری ژانر په حیث په پښتوادب کی په اووه لسم قرن کی ورداخله شوه ، لومړنی پښتون شاعر چې منظومه قصوته یې مخ اړولی دی هغه دخو شحالخان خټک بابا صر (فیاض) و ، ده دروم دشهزاده (بهرام اوګل اندامی) قصه په پښتو نظم لیکلی ده ، دغه قصه په قلمی نسخو کی ساتل شوي ده او هم څو ځلی په دهلی، لاهور او د پیښور په قصه خوانی کی چاپ شوی ده . کوم خصوصیتونه چې د پښتو تحریري ادبیات لري هغه د فیاض په دغه قصه کی ځای شوي . د عروض په علم برابر پیتونه ویل شوي دي او د پیښور له حیثه قصه پوره غنی ده .

د فیاض په ژوند کی دپیرو شاعرانو د قصی ژانر ته میخه کړی وه او دده تقلید دپیرو کاوه او منظومی

قصی بـه یی لیکلی ، د فیاض د دغی قصی نـه څو کاله و ر و سته طالب ر شید د قصی همد غی نوعی ته هڅه و کړه او په ۱۶۹۲ کال کی یی د گل او صنوبر مشهوره قصه په پښتو نظم کړه ، دسنځنیو پیړیو د پښتو د کلاسیکو ادبیا تو لوی شخصیت عبدا لحمید مو مند هم د قصی له جذا بیت نه خلاص شوی نه دی او . شاه او گدا قصه یی په پښتو نظم کړه چی دغه قصه د لو مړی ځل د پاره د پښتو ر په قصه خوانی کی په ۱۸۸۲ کال چاپ شوه. دغه نوی ژا نرسره لوی شاعر عبد ا لقادر خان ختک د خوشحا لخان ختک زوی هم خپله سینه وښوده او د جا سی (یوسف او زلیخا) یی په پښتو نظم ترجمه گړه دغه قصه په ۱۸۷۱ کال کی د پښتو ر په قصه خوانی کی چاپ شوی ده باید و ویل شی چی د پښتو لو مړ نیو قصو خصوصیت دا نه وچی د پښتنو د ژوند نه به را وتلی. پښتنو مولفینو زیا تره عنعنوی موضوعا تو ته هڅه کوله چی هغه د شرق گډ مال گڼل کیږی یعنی د هغه وخت د قصو موضوعات د محلی محد و د یتونو نه خلاص دی او یوازی په پښتنو پوری انحصار نه لری.

د پښتنو پـه تحریری ادبیا تو کی د قصود انکشاف مهم وخت ۱۶۹۹ کال و په دغه کال کسی صدرخان ختک د خوشحا لخان ختک زوی د (دلی اوشهی) منظومه قصه پای

ته ورسوله . دا د پښتنو په منځ کې یوه مشهوره قصه ده او هم په ۱۷۰۰ کال کې صدرخان ختیک یوه بله منظومه قصه (ادم خان او درخانی) تکمیل کړه په دې ترتیب په پښتنو کې دقصې نوعه په محلي او پښتنې موضوعا توسره غنی شوه په هغو موضوعا توسره چې د شفاهي پښتنې اثارو دخزانې نه راوتلی دی . یعنې په منظومو قصو کې خپل پښتنې سوچه روایات اومو ضوعات داخل شول.

د صلاخان منظوم قصو چې موضوعات یې سوچه پښتنې وو په اول کې یې دخلکو پوره توجه جلب نه کړای شوه او سمکن علت به یې داو چې دغو پښتنې تحریرې قصو ، لرغونې عنعنې ماتې کړې وې ، د پښتو قصې پخوا معمولا د نثر په ژبه وړاندې کیدلې چې په حماسي تصویرونو ، نارواو غیر ونو به ښکلي شوي او بونیل شوي وي او په نظم باندې د قصو بیان خلکو ته نا اشنا غوندې کار ښکاریده ، مګر دوخت په تیریدو د صدرخان او فیاض دپلویانو شمیر زیاتیده اود (۱۹) او (۲۰) پیړیو په حدودو کې د منظوم قصو فورم یو معتبر اوحاکم فورم وګڼل شو او هر شاعر کوښښ کاوه چې قصې په نظم ولیکي او په دې لاري خپل استعداد وښیي په دغه وخت کې په قصه خوانې کې پیخړته منظومې قصې چاپ شوې اودغه بازار ډیر تودشو اودهغه وخت د شاعرانو توجه یې ځان ته جلب کړه.

شاعر انودغه بازار یعنی قصه خوانی ته یا په خپل طبیت میلان کا وه او آثار به یی لیکل او د لته به چا پیدل او یا به تاجرانو فرمایشونه ورکول او قصی به یی په نظم ورباندی لیکلی، بیا به یی چا پولی او خرڅولی به یی شاعر انو ته به زیاتره موضوعات او قصی تاجرانو انتخابولی که څه هم تاجرانو ادبیات څه نه شوتجزیه کولای مگر د خلکو روحیات ورته معلوم وو او د بازار په تقاضا پوهیدل چی کوم ډول آثار څه خرڅیږی. تاجرانو دا کار د پیسو د پاره گاوه خود پښتو ادب په گټه تمامیده او د پښتود انکشاف سره یی مرسته کوله د لته باید وویل شی چی دهغو تولوشاعرانو استاد چی قصه خوانی ته به یی اثار لیکل ملا نعمت الله ودی ترټولو مستعد او مشهور واو په سلگونو زره بیتو نه ورنه په میراث راپاتی دی نعمت الله دهغو مو لفینو له جملی نه دی چی مطلب یی په ساده اوروانه ژبه بیان کړی دی، دده منظومی قصی چی دنا لوستو خلکو منځ کی لوستل کیږی هغوی هم ورباندی څه پوهیږی. د نعمت الله په وینا کی داقوت شته ترڅو چی کتاب ختم نه شی ترهغه یی څوک له لاسه نه غورځوی د نعمت الله دشعر عالی صفات دده په هغو قصو کی څه څرگند شوی دی چی په پښتنی اولسی روایاتو بنادی لکه د فتح خان کندهاری قصه د موسی خان او گلمکی قصه

او جلات خان او شمایلی قصه شوه دغه قصی په خورا لوړ شعري هنر بیان شوي دي او د نظم دشهکار یونمونه ده ده په شاگرد انو کی داسی لوی لوی شاعران اولیکوالان شته لکه ملا احمد جان ناظم اومولوي احمد .

مولوي احمد لومړی په نظم قصی لیکلی مگر وروسته بیاده لنډي لنډي فولکلوري قصی په خواږه او بلیغ نثر سره لیکلی دی او همد اوجه ده چی داوسنی هنري پښتو نثر له تومسینو څخه گنل شوی دی . په ۱۸۷۳ کال کی په لاهور کی دده نهه څلویښت لنډی قصی په هغه کتاب کی چاپ شوی چې (گنج پښتو) نومیږی . مشهور شوروی پښتوادب پوه پاکتریگ ، ف گیرس د ملا گل احمد په باره کی چې په پښتو کی د لنډو قصو موسس دی داسی لیکی « ملا گل احمد (۱۸۲۹ - ۱۸۹۱) دقصه خوانی داثارو سره ارتباط لاره اود مولوی احمد لاریی په نثر کی تعقیبوله . دی شاعر او نثر لیکوال نکسی دی د پښتو د یسد یعی نثر په انکشاف کی دده برخه دو مزه زیاته ده چې ارزښت یی نه شی تاگل کیدای ملا گل احمد کوپښ کاوه چې په پښتو ادبیاتو کی د ادب پوه نوی نوعه ورزیاته کړی چې هغه د لنډو قصو نوعه ده په پښتو ادب کی تر دغه وخت پوری داڅ ا نر موجود نه وده دوخت نه پخوا

دا اقدام وکړه پښتو ادبیا تو اودپښتنو په اجتماعی ژوند کی دلنډوقصو د ژانر دانکشاف لـه پاره مناسب شرایط لابرابر شوی نه وو او هم دمترقی اوتنو یری تما یلا تولـه پاره زمینه څنګه چـی ښـایـی برابره نه وه».

همدارنګه میراحمد شاه رضوانی. منشی احمد جان. سیدراحت زاخیلی او نو روپـه پښتو قصی لیکلی اودقصه خوانی دبازارسره یی ارتباط لاره اوچاپیدلی به دسیدراحت زاخیلی دایوه قصه کونده انجلی څومره مشهوره ده (داقصه یوستر ادبی شهکار ودلیکوال په لوړاستعداد دلالت کوی داقصه پـه روان نثر ده سیدراحت زاخیلی منظومی قصی هم لیکلی دی اوپه قصه خوانی کی چاپ شوی دی خود څیښوا دب پوهانو دو ینالـه مخی راحت صاحب وروستی سړی دی چی منظومی قصی یی لیکل دی تـرده وروسته بیابل چامنظومی قصی ونه لیکلی مګرزه دومره زیاتوم چی دمنظومو قصو سلسله قطع شوی وه خوپه‌دی و ختوکسی ملګری لایق پیرته داسلسله را ژوندی کـړی اویـوه مجموعه یی د (قصی او افسانی) په‌نامه چاپ کړه‌ددغو منظومو قصولوستل‌هماغه پخوانی منظومی قصی سړی ته رایادوی.

د پخوا نیو قصه لیکو نکو نه یو دا خو ند احمد نـوم اخـتی شو . ده په خپله زمانه کـی په پښتو کی خوږی قصی لیکـلی د ی چـی داو ستـیو لنډه وقصو په قا لب کی ځـای کیدای شی. د ده له مشهور وقصو څخـه یوه (ورك زوی پیدا شوی) قصـه اوبله د (زوی قربا نی) نومیږی دا دواړه د ده له مشهو روقصو څخـه دی د ده قصی په مسجع نثر سره دی .

تردی ځایه پوری ما د پښتو قصو په سابقه باندی نظر واچاوه اوس غواړم د حبیب الله (زړه سوا ند) شینوا ری دلنډ و قصود دغی مجموعی په باره کی چـی (لیو نـی) نو میږی پـه لنډه توګه نظر واچوم .

د دغی مجموعی هره کیسه د تولنیی د بیوزلـی طبقـی دژوند یو داسی انځور دی چی په لیدوا وا ورپدو یی دا حساس اووجـدان خاونـد ځوریږی اوپه تولنه کی ددغه راز تضا دو نو او تو پیرونو دله منځه وړلو مبارزی ته یی را بولی د غه قصی خوږی آوروانی دی ژبه یی آسانه اوساده ده د قهرمانانو ترمنځ خبری اودیالوګونه طبیعی دی اوتصنع او مشکل پکی نه لیدل کیږی اودی په څنګ کی په هره قصه کی ځانګړی درد ځای شوی اومنطقی تخیل او تسلسل پکی ساتل شوی دی .

زړه سوا ند شینواری د کوچیانو اوشپنو لید لوته کیږدیو
اود ښتو ته ور غلی د هغوی سره ناست دی خبری یی
ورسره کړی دبز گرانو اولوگروسره یی په سروغرمو پسه
گروند وکی دزړه خواله کړی دکونډه واوپټیمانو
دکړیدلی ژوند ننداره یی کړی اولسه نږدی نه یی
هرڅه لیدلی اوبیا یی لیکلی دی اود قلم په ژبه بی هم
دخوارانو او بیوزلوسره خپل زړه سوی او خواخوږی
ښکاره کړی ده .

داچی زړه سوا ند دعسکری دسپیڅلی دندی دزیا تو
نا اوز گارتیا اومصر فیتونو سره - سره دشعر او ادب
دنړی سره خپله مینه اوعلاقه ساتلی اوپه دغه لارکی یی
گړندی اوپاخه گامونه اوچت کړی لسه یوی خوا یسی
خوږی او زړه پوری غزلی اوادبی توټی لیکی اوله بلی
خواهم په لنډه وکیسو کسی دخپلی تولنی دبیوزلو او
کړیدلو انسانانو ژوند انځور وی نوځکه یسی زه
ددغه کاراوزیار ستاینه کوم اود قصو د دغی مجموعی
دچاپ له آمله ورته دزړه لسه کومی مبارکی وایم او
دا . د . ج دلیکوالو اوشاعرانو داتحادیی له پاره ددغه
رازگتور و ادبی آثار ودخپرولو په برخه کی لازیات
بریا لیتوبونه غواړم

سر محقق محمد شینواری

چوپتیا

دلوړو غرونود سورګو او څوکود سپینو واو رو
ز ړونـه دلمـر د تـودو اوز ریتـو وړانګو سره پاسته
شوې او نرم شوی وو اولکـه د کونډ واوښتیمانود ترمو
اوښکـوغوندې ترښه ر نې اوبه را بهیدلی .

دباغو اود ښتونه د نسیم دلګید وسره خوږی وږمی
هرې خواته خورید لی اوپه هوا کی د مرغانو دنغمو او
او ازو نوسره یوځای کیدلـی .

دښار د ځینو څوپوړ ېزو کور و نو د منځ نه په هم همدغه ر ا ز وړمی او خو شبویی را پور ته کیدې او پورته دکورو نو په فضا کی به یی نښاکو لـه .

دپسرلی دشهو اوور ځود را رسید و له ا مله په ټول ښار کی دبل هروخت نه ګنه ګونه زیا ته شوې وه .

دښار له واټو نه به ډول، ډول ګړند ی موټر و نه تیریدل اومخ په باغو نواو یا دغرو لمنو ته به ړو ان وو.

دښار دشتمنو او سیدو نکو سره دبل هر چا نه زیاته دپسرلی دمیلو او ننداړوهوس او مینه وه.

سهار په هغه وخت کی چی لادلمر پلو شو پرخی دځان سره نسه وې پورته کړې دښارد یودرې پو ړېزه کور میرمنی خپل کوچنی زوې (زړګی) دلاس نه نیولی اودخپل کورپه لوې انګړ کی یی دګلا نود کو چنیو ، کو چنیو پتیو په غا ړه ورو ، ور و ګر ځاو ه ا و د واړوپه مینه مینه قدم واهه اودګلا نو ننداره یی کوله .

زړګی به یونیم ګل او غوټی ته ورنږ دې شواوپه ټندې به یی و رته لاس راتیر کـړ اوزړه به یی وتخنیده چی وې شکوې خو سور به یی تر ینه ږیرته لاس را پکود او ورته به یی وویل :

ـ نه زویه پام کوه چی ګلان ونه شکوې که پلار دې

راشی نوو به‌دی‌و هی اوهیڅ شی به بیا د ر ته نه راوړی.

زړ گی به د ځپلی سو رېد پ خبرو چوپ پا تی شو او یوه شیبه به یی د ځپلی‌شوخی نه لا س‌و اخیست او پدې کی به‌یی په ځپلو ما تو او نیمکیو خبرو د ځپلی سو ر نه پوښتنه و گړه:

ـ اغا جان می کله میلی ته بیا یی ؟ بیگا خو یی را ته ویلی وچی سبا ته‌دی میلی ته بیا یـم که نه سی بیا یی نو اوس زه‌دا گلان شکوم.

د کاله میرمن به د ځپل زوې د غه را زما تو او خو پو خبر وړ یره خوشا لو له او په زړ ه به‌یی د هغه نیمکی او پستی خبرې د یرې خو پې لگید لی.

کله به چی هغه ځپلی خبرې پاې ته‌و رسو لی نو سو ر به‌یی و رته په جا را و قربان لگیا شوه‌او د اسی ځواب به‌یی و رکړ:

ـ ته نه گور پ زویه (تو تیا) لگیاده ډوډی پخو پ چی له‌ځان سره یی میلی ته یو سو. پلار د پ هم سو تر بیولی د پ چی تیل پکی واچوې.

هغی لا د ځپل کو چنی زوې سره خبرې کولی چی د کور خدمتگا ره (تو تیا) د پخلنځی نه کیوته او د هغوی په ځنگ کی و د ر یده او د یو ی حیا نا کی او سر و ر ی مسکا سره یوځای یی د اسی و ویل:

-بی بی دچرګ نه خوسی کباب پوخ کړ او بودوه ګاسی یخنی ښوروا می هم برابره کړه او یوخود پاستی تودې ډوډۍ سی هم یخی کړې چی له ځان سره یی میلی ته یوسی ه .

بی بی دتو تیا پدې خبره چی دچرګ نه سی کباب پوخ کړې ره په غوسه شوه او له ډیرې غوسی نه توره اوسره واوښته نو په قهر جنه لهجه یی ورته دهغی خبرې دا سی ورغبرګی کړې:

-بی بی دچرګ نه سی کباب پوخ کړ او ښوروا سی ...ډوډۍ سی هم ..... تا نه خوبیخی بلا جوړه شو ه هر کار په خپل سرکوې تا ته چا و یلی وچی دچرګ نه کباب پوخ کړه؟ رنګ دې ورګ شه یو ځل خو به د پې یوښتنه کړې وای ؟

توتیا پداسی حال کی چی دانګړد ونود پانو غوندې له ویرې نه ریږ ید له په نښتی لهجه یی داسی وویل:

-بی بی زه پوه نه شومه تاسو خوبه چی پخوا میلوته تللـی نو کباب به مو له ځان سره وړ .

دهغی شوندی لاهماغسی دغوسی نه الوتی چی دتوتیا خبره یی ورغوځه کړه :

ـ کباب به موو ... کباب به موو ... ناولی .. رنگ‌دې ورك شه سپیـری ... دومره‌سپین ستر گی یی چې په خپل سر کار و نه کوی .

توتیا لکه بت چو په ولاړه‌وه او په خپل ځان ډیره‌په غوسه وه‌چې ولی یی مخکی له‌مخکی دبی بی نه پوښتنه‌نه ده کړی ددې له پاره چې بی بی خوشا له شی نو په زړ گی ور ټیټه شوه اوورته ییووی‌ـل :

ـ دادی اغـاجان به‌دې راشی اوچیرې لیرې به‌دې میلی ته بوځي څنگه زړ گـی جا نه ما درسره میلـی ته نه بیا یـی ؟

زړگی چې دخپلی مورنه زده کړې و نوتو تیاته یی ځواب ور کـړ :

ـنه ... نه ... تا نا ولی څه کومه ... نه ... نه تا موړ په‌میلی کی نه پریدو ته‌نا و لی یـی .

توتیاته به‌چې دبی بی دهری ورځـی په زهرو لړ لی خبری و رپیاد شوې په زړه کی به‌یی دخواشیـی وریځې و گرځیدې اوورسره جوخت به‌یی دستر گو په گونجونو گی داوښکو څاڅکی پیدا شو دیوی مجبوري خندا سره‌یی په‌ځواب کی ووی‌ـل :

ـ څه‌نوچې ما له ځان سره میلی ته نه بیا یی څه‌شی به

راته راوړی ؟

هغه لاپه خپلو دخوشامند ونه ډکو خبرو لګیا وه چې دکور نه د باندې د موټر دهارن غږ پورته شو او وروسته دکور دد روازې زنګ هم ووهل شو دکور میرمنې په پوښتنه لهجه وویل :

-توتیا دادوړو خبرې او خویونه پریده منډه کړه و ګوره چې څوک دی ؟

هغې په یوې منډې ځان ورساوه دروازه یې پیرته کړه د دروازې په مخکې یوشین موټر ودریده او دزړګی پلار ترینه راکوز شو . هغې ورته سلام واچاوه او کورته راننووت دکاله میرمن او زړګی چې په انګړ کې دګلانو څلورم پټې ته راورسید لې وو دهغه دیوتا نو غږیې غوږته راغې زړګی خپل لاس دخپلې مورد لاس نه خوشی کړاو پلارته یې ورمنډه کړه او په غږیو کې ورو ولید او پوښتنه یې ترینه وکړه :

-اغاجانه کله میلې ته ځو . ؟

-همدا اوس زویه

توتیا د هغوې نه څوګا مونه وړاندې ولاړه وه او په نمجنوسټر ګویې وو ګټل او لکه دسینما دپر دې غوندې به یې په زړه ګی دکو چنیتو ب شپې و رپیا دې شوې او دابه یې هم په فکر کې وګرځیدل چې څنګه یې لومړی

موراوبیا پلار یودبل پسی مړه شول اوپه کورکی یی دغمونو کاروان واړول .

زړګی او پلار یی لاخبرې کولی چی دکور میرمن را ټوپ شوه او د هغوې په خبرو کی ور ګډه شوه .

ـ دزړګی پلاره بښه دی چی راغلی زه خو نوزړګی په ډیرو پوښتنوتنګ ته راوستمه ... ګله به می میلی ته بیایی ... اغاجان می څه شو؟ اوشه وخت به راځی ؟ هغه د خپل زوی په تندی باندی لاس را ښکو داوپه خندا ، خندا یی ورته وویل :

ـ دادی اوس به می ګران او خوږ بچی میلی ته بوځمه او هلته به ورته ډوډ لو بو نوی شیان هم واخلمه .

پدې خبرو کی هغوی په سالون ورننوتل د کورمیرمنی توتیاته غږ کړ اوځانته یی راوغوښته په یو تریخ نظر یی ورته وکتل اوویی ویل :

ـ ژرشه ډیره سسته ، سسته مه ګډیره هرڅه چی دې پاخه ګړی هغه په موټر کی کیده او ګوره یوه غالی او دوه تو شکوله هم موټرته یوسه چای دې هیر نه شی یولوې ترموز ترینه ډک ګړه ؟

توتیا په‌یومړ دبانه او از سره داډ ورکړ :

- په ستر ګو یې یې همد اسی به و ګړمه هرڅه می مخکی له مخکی تیار ګړې .

هغه دسالون له را و وتله او ځان یې په یوه سړه پخلنځی ته ور ساوه څه یې چې پاخه ګړی وو هغه یې موټرته یووړه اوهم یې یوه غالی او دوه توشکو نه‌په موټر ګی کښیښو ده . هغوی دد ریشیو پـه‌بد نولو او اغوستلو اوسیلی ته‌د تللو ته پاره دځا نونو په‌سنبا لولو لګیا شول ، یوه شیبه ور وسته موټر ته پورته شول ، پداسی حال ګی چې توتیا هغوی ته په خپلو خبر و کی دیوی بڼې اوخو بڼی نه‌د کی میلی غوښتنه ګو له‌د ګور میرمنی خیل سرد مو تړ د ګړ ګی نه را وویست او په تړیو تندی یې وویل :

- توتیا موږ چې را ځو تا باید تونی کوتی جارو ګړی وی . بلادې و و هه ویده‌نه‌شی . اونه په‌خپل سرڅه شی ته ګوتی ورووړی . موږ چې ګله‌د باند ی‌لاړشو ته‌میلی اوچړ چې جوړ وی او بیغمه‌خو بونه ګوې‌د هغی‌خبری د توتیا دزړه دتپونو له پاره مالګه وه غوښتل یې یو څه ووایی خو د ګور میرمنی تسرې په خپلو ورو ستیو پټکو او ګو اښو نوهرڅه‌هیر ګړه‌اوویا یی‌خپله یادونه تکرار ګړه؟

ته اوس ډیره سپین سترګی شوې یې څه، څه ورګه شه ګه‌څه هم توتیا دهغې پدغودردو نکووا وخورو نکو څبرو

ډیره‌خپه اوخواشیني شوه خوپه‌خوله یې‌د مجبوری له مخې وویل.

- یې بی‌خدایې‌می دې‌ږنده‌ګرې که‌به‌ویده شمه‌او څه‌شی ته‌ګوتی ورورپمه بیغمه‌میلی‌ته لاړشی؟

دهغې‌په‌تندی ګی‌دغوسی‌کرښی‌اواړې‌شوی دموتر کړکی یې‌وتړله‌موتړدکور دمخې نه‌وخوځیداودښارمخامخ لوړواټ نه پورې‌وته.

هغوې‌په‌خپل شین‌موتر کی‌دمیلی ځای‌ته‌نږدې کیدل اوتوتیاد هغوې‌په کور کی د پخلنځی‌دیوال‌ته‌ډډه‌ولګوله اویوازې دخپلوچور تو نواواند یښنوسره‌پاتی شوه کله به‌یې‌دخیال‌مر غه‌والوته خپل‌پخوا نی کورته‌به لاړه‌او ژربه‌یې‌هر څه له‌سترګوتیر شواو کله‌به یې‌چې‌خیال ییرته راستون شو نو خپلې‌یوه سې اوبی‌کسی ته‌به یې‌پام شواو لدې‌سره جوخت به‌یې‌د کور د میرمنې بیځایه منتونه اوګواښونه په‌زړه‌ورو ګرځید ل نودپوسو ړ اوسیلی‌سره به‌یې‌دخپلو لوګیو وهلو سترګونه‌ټرمی اوښکی راتوې شوې. دغوچور تونو او اندښوهنه شیبه‌په‌شیبه‌د غمو په سمندر کی‌ډوبوله‌میلی‌ته‌دتګ‌په وخت کی‌هماغه‌خبرې

اوسپارښتنې چې وېده نه شي. تولې کوتې جارو کړه، په خپل سرخه شي ته گوتې ورنه وړې ورپه زړه شوې نو په سات زړه يې جارو په لاس کې واخسته او دگوتو په جارو کولو لگيا شوه تولې کوتې يې ژر، ژر جارو کړې اوهم يې دده وډې خوړلو او پخلنځي لوښې پر يمنځل ډيره ستړې شوه نود چوترې په غاړه کښينا سته او په خپل خپه او تر يدلې نظر يې د گلانو خواته کتل او کله به يې چې د گلانو په منځ کې يو نيم مړاوې او رژيدلې گل باندې ستر گې ولگيدلې نود خپل ژوند سود اوتسلي به يې پرې کوله.

پدغه وخت کې چې توتيا د غمو نوگا للو او فکر کولو ته يوازې او لږخه اوزگاره شوې وه نو راز، راززاړه او نوې خيالونه يې له مخې تير يدل په زړه کې يې يوخه ورتير شول په ستر گو کې يې غټې غټې اوښکې وگرځيدې اوله ځان سره يې پټ وژړل او په ژړا کې يې، ورته دغه کور د گور ځوندې ښکاره شو.

ماز يگر چې د لمرز رينو وړا نگو دلوړ وغر ونود شو گو دسرو نوسر ه مخه بنه گوله هغو يې هم خپله سيله بس گړه او د گور خوا ته راروان شول. يوه گړۍ و روسته گورته را ورسيدل.

هر څو سره يې چې د موټر هارن وکړ او د درو ازې

زنګ یی ووا هه‌چا ور ته‌در وازه ییرته نه‌کړ ه پداسی حال کی‌چی هغوی ډیر په غوسه ژوړپه‌یا دشو چی د لوي دروازی یوه‌کونجی ور سره ده‌نود کور میر منی‌د خپل جیب نه کو نجی ر او یستله اودر وازه یی ییرته ګړه اوکورته ننوتل ډیری چغی‌او نا ري یی‌و کړی پرته‌د حیرانتو ونکی چوپتیا نه‌په کور کی نورځو ک‌نه‌ود کور میر من په وار ختایی‌ژړ، ژړ په ټولو کوتوو ګرځید ـ له تو لی کوتی جارو شوی اوستره شوی‌وی ییرته‌راغله په‌حیرا نتیاسر ه‌یی‌وو یل :

ـد کور تو ل لوښی او شیا ن پرځای دی هیڅ شی نه دی ورک‌یو ازی تو تیا په کور کی‌نشته هغه‌به چیرته تللی وي ؟

ګال-۱۳۵۶

گـلر نگه

کلهچی (گلرنگه) ترورپدی پوهشوه چی نور ورته په کلی کی د پخوا غوندی خواری او مزدوری نه پیدا کیږي او هم یی په کلی کی ځینی ناز ولی هلکان په لوتوولی او خوشی په خوشی په کوڅو کی پسی ناری وهی چی هغه ده لیونی راغله او ... نو دځان سره یی پریکړه و کړه چی نور کلی پریږدی او دښار په لور روانه شی. هر څوك به چی دښار نه راغی نوورنږدي به شوه او پوښتنه به یی وکړه چی :

-هلته به په بنارکی راته کوم کارنیم پیدا نه شی ؟

یوه ورځ چې دهغې ناسکه خوریی (اختر) دښارنه کلی ته د کوم کارله پاره راغلی و نوګلرنګه تروریی په څنګ کی کښینا سته نوری تو لی خبری یی هیری کړی لوړي یی دا پوښتنه و کړه :

-اختره بچیه! دا وایه چې بنارکی به راته کومه خواري غریبی پیدا کړي او که نه ؟ چا راته دښارد خواری او مزدوری ډیر سپت کړي .

هغی له یوي خواد اخبری کولی او له بلی خوایی په خپلو وچو شونډو باندي ژبه تیرو له ا وور سره به یی لاس پورته کړاو خپل تو راو سپن ویښتان به یی په تور تیکري کی پټ کړه .

اختر چې مخکی له مخکی دګلر نګی ترور په غوښتنه اوزړه پوهیده نو په بنارکی یی ورته کار لټولی او پیدا کړی ونوورته یی دیوزیری په توګه وویل :

-هروخت به دی پوښتنه کوله اوهمدا به دی ویل چې په بنارکی به راته کومه خواري او غریبی پیدا شی او که نه ؟ مادرته په بنارکی دیولوي سوداګر په کورکی بڼه دمزی مزدوري پیدا کړی که لاړی نو ایله به دژوند په مزه او خوند پوه شی .

گلرنگه چې ددغې خبرې اوزیرې په انتظار وه نو دیره خوشاله شوه اوپه وچو شونه و یې یوه سروره غوندې مسکا تیره شوه:

اوویې ویل:

ـ اختره زویه دخولې نه دې جارشم دسربلا دې واخلمه خیرات به را باندې وکټې ثواب بسه دې وشي ... رښتیا وایه تو کې خوبه را سره نه کې؟

پدې خبره اختر لږ څه خپه غوندې شولا ندینې شونډه یې په غاښونو کینبکوده او ویې ویل:ـ

ـ تروري! زه خونو څه تو کمار نه یمه که را سره لاړې وبه یې گورې.

هغې داختر خواته په خواږه نظر وکتل پداسې حال کې چې په خپلې خبرې یو څه پښیمانه نه ښکاریده دیو وړو کې توخې ورو سته یې وویل:

ـ اختره زویه خدای دې درسره بښه وکړي ... زما په خبرو مه خپه کیږه که څوك را ته سمه خبره هم وکې ماته تو که ښکاري.

اخترخپل څټ وگرا وه په بوځغلنده نظر یې مخامخ وکتل اوبیا یې خپله خبره داسې پیل کړه:

ـ تروري! ولې دیره سودا کې که چېرې ښارته

لاړه شى ددي تولو ناخوالونه به بيغمه شى او غوږونه به دي سارەشى زه هم پەښارگى يم اوس ديوكارله پاره راغلى يم بيرته ځمه.

گلرنگه ترور پدى خبره لاپسى خو شا له شوه دزړه نه يى شك ليرې شو نوويى ويل:

ـ زويه ماته دوه درى ور ځنى ماتله (معطله) شه چى دلارى خرڅ پيدا كړم.

هغى به چى خبري كولى يو ئيم توخى به ترينه دخبرو ګډه وډه گړه خواخته ورته پەدې پاى ښار نى سره غوږ نيولى و. هغه چى ديوى هفتى له پاره راغلى و تو گلرنگى ترورته يى وويل:

ـ ددوه ورځو پرځاى به در ته پنځه ور ځى وځنډ يږم خو گوره تروري تول لوښى دى دلته مه پريده له ځان سره يى يوسه ځكه زه به سودا گرصيب ته وو يم چى تاسوته پەخپل يو گراج كى ځاى در كړي نو بيا خوستاسو هلته لوښوته ارتيا پيدا كيږي... ته همد وسره وكړه چى ژر، ژر تياري ليسه اود بل خا لى ورځى ته ځان تيار كه.

گلرنگه ترور داختر پدغووعدِ واوخبرو په يوه شيبه كى دگل غوندى وغوږ يده او په زړه كى يى د نورو خيالاتوا و هوسونو په لړكى داهم وگرځيده كه چيري ښار

ته لاړه شی اوهغه ورته ړښتیا په خپل ګراج کی ځای ورکړي نوبسه د یـری را سنی بسه وو تنه پسه کو رکی کـار کوي او چې ورسره بلده شوه نوزاری او سوال به ورته کو ي چې زوي یې ور ته په شوو نخـی کې وا چو ي او . . .

ګلرنګی ترورد خوشالی په خپوکی له ډیروخوشامندو نـه اختر په تندی با ندي ښکل کړ او دعا یې ورته وکړه .

اختر دهغی د دعا ګانو په پای کی د ډاډ ګیرنی له پاره ویل :

ـ تروری! بیخی بیغمه اوسه ته ځان تیار وه.

پدي خبرو دواړه پاځیده اختر یوه خوالا راوګلرنګه ترور نیغه د خپل کور په خوا روا نه شوه دخپل خوسی اولسو چرګانو دخرڅولو په فکر کی شوه اوهغه یې په خرڅانه کی واچول چې ځانته دلارې خرڅ برابر کاندی

ګلرنګه ترور په کلی را سرشوه او په خپلو پردیو وګرځیده چې سخه بنه ورسره وکړی . . . د کلی ډیوی نیمی ښځی به په ګلرنګی ترور زړه وسوځیده او پدغی جدا یی او کلی نه بنارته په تللو یی خوابدي وې نو ورته به یې دخپلو نورو خبرو په لړ کی وویل :

ـ گلرنگی ترور تاپدې اخرعمر خپل ځان مسا پر که...
سړ ا ته ګیډه دې شی چې اوس یې ته پدې سړن سر او
کمزو ري ځان دښا ر تګ ته مجبوره کړې.

د گلرنګی ترور ستونی به خارښت و کړ شو، شووا ري
به وتوخیده په ګمزورو ستر ګو کی به یې اوښکی وګرځیدې
خوژر به ی په بنو کی ور ور کی شوې د کلی دښځو
دخوا خوږی په مقا بل کی به یې و ویل

ـ مجبورې په انسان هرڅه کوی.

گلرنګه تر ور چې په کلی کی د سخه ښې کو لو نه
اوزګاره شوه نو کورته راغله، خپل دخپلی لور اوزوې
کا لی یې پریمنځل اوپیوند و نه یې ورته کیښول. سبا ته
د خالی اورځ شوه او اختر ورپسی راغی، گلرنګی ترور،
لورا وزوې دري وا رو دخپل کا له لوښی او دوه زا ړه
لمښی او دري زړې خیرنی پرستنی شاته واچولی اومخ
په سړک روان شول، دیو ساعت انتظار ورو سته دو لسوا لی
نه سړویس راورسید اختر او ګلرنګه دخپل زوی او لور
سره یوځای موټر ته پورته شول او د سړ لیو په ګډه ګونه
کی یې ځا نته ځای پیدا کړ او دښا ر په لورې و خوځیدل
سړویس چې روانیده نوهغې دو روستی ځل له پاره د کلی
خوا وشاته په ځیر ، ځیر و کتل او دخپلی پردیسی او

مجبور ی له امله ورته په زړه کی اندیښنی وګرځیدی او په سترګو کی یی او ښکی را پیدا شوي همدغسی دهغی دلور اوزوي ښه هم الوتی ښکارید له اودخپلی کوڅی د همزولو اود لوبو د ملګرو پسی دیر خپه او غمګین و .

موټر په ټیره ، ټیره د ښار په لوري لار وهله اوپه ځینو ځایونو کی به په دوړو کی پټشو ، دغه دري مجبوره انسانان پکی د لومړي ځل له پاره دښار خواته نږدي کیدل دګلرنګی ترور سره شیبه په شیبه دا فکر اوسودا زیاتیدله چی د ښاری ژوند شرایط یه څنګه وي .؟ دخپل زوي باداراو د هغه د کورنی دغړو په خوي او خصلت به څنګه ځان پوهوي ؟ خدای دي وکړي چی بی بی ترینه خپه نه شي او ما شومان یی وزته دهغه بچیان وڼه وهی او... په همدغو چورتیو نواو سودا کی سروپس ښارته ورسید او په تم ځای کی ترینه تولی سپرلی کوزی شوي او ورسته بیا په یوي کوڅه کی د سودا گرد دري پوړیزه کورپه مخکی ودریدل.

اختر غږکړ چی گلرنګی ترور ر کیوزی ، گلرنګه ، لور او زوي یی د موټر نه را کیوتل اوهم یی خپل

کالی او لوښی دموټر نه را کوز کړل، موټر وآن ته یی کرایه ور کړه موټر بر ته لاړاختر په یوې سپړې لهجه وویل:

-تروری تا سویو سات دلته کینی زه بیرته راځمه... گلرنگه چی کله په موټر کی چیرته نه وه تللی نو ډیره ستړی شوی وه، سړی گرځیده او زړه یی راسکیده نو اختر ته یی وویل:

- ښه زویه څنگه دی چی خوښه وی هماغسی و کړه... موږ به درته دلته کینو.

گلرنگه چی ډیره گنسه وه او دسرسپین ویښتان یی دلاری دوړو خړاړو لی ودښا رهرڅه ورته نا اشنا ښکاریدل او دخلکو گنی گونی ته حیرانه پاتی وه.

اختردسوه اگر په کور ورننوت او دهغی دراتلونه یی خبر کړاوهم یی دهغی دښه کار اوخدمت کولو زمه ورته ووهله سود اگرورته اجازه وکړه چی هغوې په گراج کی واروی.

اختر ددوه ساتو څخه وروسته راغی، گلرنگی تروړ خپل گنس سړه خپلی زړی بسترې باندی ایښی و او تول ځان یی ریږدیده، زوی او لوریی ورته به څنگ گی ناست واختر په ولاړه غږ کړ:

گلرنگی ترور پورته کیږی چې څو؟
گلرنگه ترور دهغه دغږ سره سمه پورته شوه خو سر پرې وگرځیده پیرته په خپل ځای کې کینـاسته اختر د لاس نه ونیوه او ځلور واړو دلو ښو اوز رو پستړو سره یـو ځاې دسود اگردلوی دروازې تر څنګ گراج تـــه ورننوتل .

یوه شیبه وروسته دسود اگردوه واړه زامن د گراج په دروازې کې ودریدل او ددغودری کلیوالو مجبورو انسانانو خوا ته یې په تعجب سره راګتل او دهغوی ځیرې کالی اوپښې ابلې پښې ورته یوه عجیبه غوندې ننداره ښکاره یدله یوبل ته بـه بې سره وګتل اوغلی په یې دیوی کو چنۍ خندا سره په خپلو کې څه وویـل . هغوی چې په گراج کې ځای پرځای شول نواختر سود اگر ته ورغی او د گـلرنگـی ترور او دهغې دلور دتنخا په باره کې ورسره وغږید او هر څه یې ورسره په همد غه ورځ خلاص کړه .

اختر دغه شپه په گراج کې د گلرنگی ترور سره پاتې شواود سود اگرتولې سهار ښتنې یې ورته وویلې، گلرنگه ترورچې خپلوما شوما نوته ډډوډۍ ډپیدا کولو اودکار دسوندلو پسې را وتلې وه نود سود اگر تولې غوښتنې او

سپارښتنې یې ومنلې. سهار اختر دګلرنګې ترور سره مخه ښه وکړه چې روا نیده نوهغې په ټندې باندې ښکل کړ او ورته یې وویل:

-زویه ترخوچې موږ دلته بلدیږو او دښار دژوند سره اموخت پیدا کوو نوز موږ پوښتنه به کوی....؟

اختر پداسې حال کې چې د خپل دغه کړار او خوا خواږې له امله خوشاله معلومیده ځواب یې ورکړ:

-په ستر ګوهر وخت بهدې پوښتنه کوم ستا په زړه کې داتیر نه شي چې ته زما ناسکه ترور یې؟ ترخوچې زه اوته په ښار کې یووخت ناوخت بهدې یوښتنې ته راځم..زه هم پردې مزدوریم که ګله وځنډیدمه خپه نه شی؟ سود اګر دیرښه سړی دی چې یوځل دهغه په خوی بوی بلده شی نو بیا نه خپه کیږی.

اختر داوویل اوبیا روان شو. ګلرنګه ترورورته دګراج ددروازې په مخکې ودریده او د هغه خواته یې ترهغه وخته پورې ګاته ترخوچې دښار یانو په ګټه ګونه کې پناه شو

غرمه بهوه چې سود اګر ګلرنګه ترور خپل ځان ته وغوښته اودیوې سرسرۍ ستړی مه شی اوپوښتنې وروسته یې ورته داسې وویل:

تروری د یروخبرو ته حاجت نشته ستاسپت راته اختر کړي
داچې هغه زموږ پخوانی دوست دی نوخامخا یی موږته
ښه مزدوره راوستلی ده زموږ په کاله کی ستا وظیفه
او کاردکالیو پریمنځل، دانګړ او کوتو جارو کـول
دی اولور به دی هم تاسره پدغه کارکی مرسته کوی
ستاتنخا به علیحده اودلو ر تنخا به دي علیحده درکوم
که چیری تاسو خپله وظیفه او کار په ښه او سمه توګه
سرته ورسوی اوبی بی درنه خوشاله وه نوبیازموږد کاله
خیرخیرات هم ستاسودی .

گلرنګی تروړچې خپل ځانډتوری خاصی په ځیری او
شلیدلی ټیکری کی راتاو کړی وهغه ته په نښتی لهجه وویل :

ـ جاردی شمه وروره ! ستاسو کارخوزما خپل کاردی
خو دغه یو سوال به سی منی ترڅوچې موږد لته بلدیرو
او په ښواوبد وپوهیږو نوګو زاره به راسره کی .

گلرنګه تروړ اوسوداګر پهخبرو لګیاوچې بی بسی
راغله اود شوند ود پاسه یی گلرنګی تروړته ستړی
مه شی و کړه اوبیا یی و ویل .

ـ دذکی جان پلاره اختر ته دي خدای خیرو ر کړي
دځان غوندې یی ډیره ښه مزدوره راته را وستلی ده .
ددغو لنډو خبرو وروسته گلرنګه بیرته گراج ته لاړه

PROPERTY OF ACKU 4568

او چې غرمه شوه نو بې بې ورته غږ کړ دد ري غټو دودیو سره یوځای یې ورته دغوښې اوښورو انه ډ که کاسه په لاس کې ورکړه گلرنگه ترور ، لور اوزوی یې چې د ځو ورځو راهسې وډې ودرې واړه تر ینه چا پیره شوا و په خوند، خوندیی و خوړه .

مازیگر سور او لور دوا ، جارو گانی په لاس کې واخستلی اودانگړه او کوتو په جار کولو یې پیل وکړ او په دی توگه یې دیوې ورځې نه بلې په خپلو کارونو کې بلد یدلی .

داچې گلرنگی او لوریی خپل کارونه ، بنه توگه سرته رسول اودهغه دکور هرڅه ورته خپل بنکاریده نو په بې بې باندی دواړه گرانی وی او په بنه ستر گه یې ورته کتل برسیره په تنخا یې خیرخیراتهم وزکاوه نو هغوی لاړی تیری شوی اودیر زیات یې په ژوند کې بدلون راغی .

اختر به هم کله کله راته او پوښتنه به یې کړه له څرنگه چې گلرنگه ترور د یره خوشاله وه نو سر به یې سر تور کړ اواختر ته به یې په دعا لاس پورې کړ، شپې او ورځې یو دبل پسې و تلې پدې کې دوه درې کلونه ووتل چې د گلرنگی ترور لور راغوتکی شوه په

مخ ،لندی اوشنډو کی به یې حیا او شکلا دوا ډه شکار یدل همدغه راز یې دغه وخت زوی داو وکلو نو شو. یوه ورځ چې سوداګر دنورووړنه زیاتی پیسی ګټلی وې او کور ته ډیر خوشاله راغې نو ګلزنګی ورته دخوشامندونه په ډ که لهجه وویل .

سورو ره زما زوی (تور) خو اوس شکر ستا سود سیورې لاندې رالوی شواو دښونځی اچولودی که نه خپه کیږې نو هغه راته په ښونځی کی واچوه .

په هغه باندې چې ګلزنګه ترور دکار اوخدمت له املـه ګرانه شوی وه نو ورته یې په ځواب کی وویل :

سډیر ښه سبا به یې درته په ښوونځی کی واچوم .

ګلزنګه ترور ډیره خوشاله شوه او یو ځل بیا یې دسودا ګردکور دټولو غړو بلا په خپل سُر واخسته او په دعا ګانو ورته سرشوه .

سبا (تور) په ښوونځی کی شامل شو نو هره ورځ به دښونځی په لور روان وو په ډیری مینې به یې خپل درسونه لوستل مور به یې شکرونه ویستل او په شوندو به یې مسکا ګرځیدله

دوختو نو په غیږ کی دژوند کاروان مخ په وړاندی ته اوشې او ورځی یو دبل پسی وتلی څوک خبروچې زمانه به بیا په دغودری مجبور واو مزدور و انسانانو نو په غوسه کیږی کله ، کله به لیو نیو فکر و نو ګلرنګی ترورته خپله خوسی اولس چرګی ور په یاد کړی او چورتونو به په کلی کی په خپل توری کوتی

ورنتوستله‌خو چې (تور) به ښو ونځې ته روانیده نو د هغې په‌زړه کې به خوشالي غزونې وکړې او د دغه خورو نکو چور تونو لړې به یې ورته وشلو له او چې دښونځې نه به راغې نو بیا به ورسره بله خوښي پیداشوه.

په‌دغه‌لړ کې‌تورورځ په‌ورځ دخوانۍ‌خواته‌ورنږدې کیده او خپله زده کړه یې داتم تولګي پورې ورسوله یوه ورځ چې تور دښونځې نه دکورخواته را روان‌و او دسړک‌له‌منځ نه‌راتیریده په‌ګډه ګونه کې‌ناڅاپه‌موټر ووا‌هه اوډیر کلک ټپي شود خپل تولګي ملګر و په‌سرو ویښولړلی‌راوړا‌وخپلې‌مزدورۍ‌سور اومزدورۍ‌خو رته یې‌دګراچ‌په‌مخکې کیښود ګلرنګه اولور یې دواړه په تورباندې ورپریوتل‌او په زوره زوریې‌چغې کړې ... او دواړو له ډیره غمه او له ډیرې غوسې نه دخپل سرو‌ویښتان وشکول ژ سوداګر اوښځه یې‌هم‌په وارختایې تورته راغلل خو افسوس چې دهغه ځنکدن و او خپلې مورا‌وخورته یې حیران، حیران کتل او د خپل روح سره یې دتل له پاره مخه بنه کوله.

دګلرنګې ترور چغو ژړا اوانګولا اود لورډیسړو فریادونو نارو او سورو (تور) دمرګ‌دمنګولونه ونه‌شو ژغورلی. هغه‌دسوداګر په‌سرسته دښارپه یوه هدیرې کې تورو خاوروته وسپارل‌شو. دتور د مرګ سره سره جوخت دګلرنګې ترور او دهغې دلور ژوند ډیر تریخ او لسه غمونه ډک شو.

هغوی یو کال نور هم پدغه گراج کی پاتی شول خو کاله چی پدغو غمو ، غمو کی دهغی لور پیغلهشوی وه نو یوه شپه یی خپلی سورته غلی غوندی څه وویل . او د سوداگر دزوی د(زکی) دلاسه یی ورته شکایت او سرتکو نه وکړه...

گلرنگه‌ترور له ډیری غوسی نه توره اوشنه شوه اوپه تندی کی یی دډیرو اند پښتو لیکی جوړی شوی نو په همد غه شپه بیر ته د کلی خواته د تللو پهفکر کی شول.

سبا یی سود اگراو دهغه ښځی ته خپل نظر او خپله پریکړهځرګنده کړه هغوی دواړه پدې‌خبره ډیر خوابدی اوخپه شول دواړو ورته‌په ګډه ډیرې زاری‌وکړی چی همد لته پاتی شی او کلی ته دتللو نه تیر شی . دهغوی زاریو هیڅ ځای و نه نیواو پدې هم ونه پوهیدل چی گلرنگه اولوریی ولی له دوی نه بیر ته کلی ته ځی گلرنگی ترور ته هم داشرم او بدهښکاریدهچی‌سوداگر ته دخپلو تللو علت ووایی.

سوداگر برسیره پدې‌چی دواړوته یی څوجوړي نوي کالی وکړل ډیرنور شیانیی‌هم ورته دسوغات په توګه ورکړل .

دښارنه دکلی پهخوا دروانیدو په وخت کی‌دگلرنگی تروراودلور په ستر گوکی او ښکی گرځیدلی همد غسی

خلوربنی

سودا گر او ښځی یی هم‌و رته په‌یوخپه او پر یشانه نظر کتل اودهغوی بیلوالی او جدایی ورته ډیره‌گرانه ښکاریده په‌تګ، تګ کی گلرنگی ترور سودا گرته‌مخ وروارړوا ورته یی وویل :

ـخدای دی در سره ډیر ښه وکړي سوداگره ډیری ښې‌شپی تیری کړی‌او ډیری نیکی او ښیګنې دی راسره وکړی که کله ،کله د خپل ځوانیمرګ زوی (تور) هدیرې ته راتلمه نو ستا سو پوښتنه به کومه .

دګلرنګی ترور پدغو خبرو هغه یوځه نورهم‌خواشینی شو... اوبیا د یوی لنډې مخه ښې په ترخ کی دیواوبل نه بیل شو . ګلرنګه ترور او لور یی دهما غه لوښو او زړو لمځو او پر ستنو سره‌په سوترکی سها ره اودکلی خواته راو خوځیدل څو ساعته وروسته خپلی ورانی او کنډوالی کوتی ته راورسیدل اوبیا یی پکی دغمو نو او دردونوسره‌یوځای واړول هغوی ښارته دری کسان تللی و خو بیرته دوه کسان راغلل .

دکلی پنه ورته ډیره ترخه او بدله ښکاریده‌په همدغو انډیښنو کسی یو کال تیر شوځه موده وروسته یی چا په کلی کې په لور باندې خپل زوې ته دعوه‌وکړه اولایی‌پسی دغه دوه‌مجبوراومزدورانسانان دخواشینی او انډیښنو په سمندر کی لاهو ګډه .

په کلی کور کی د اسی څوک نه وچی د (چنار) به پری پورته
واویا به ورسره دهغوی ځمکه گرونه وه.

په کنی کی به چی دهر چا رو پیوا و ځلی ته اړتیا او
ضرورت پیدا شونوځان به یی چنارته راورساوه او ترینه
به یی تر لاسه کړ ه.

هغه یوازی داکار ئه کاوه چی اړو کسانو ته روپی
په گروی ورکاندی اوځمکه یی ونیسی بلکی په گټه یی هم
خپلی روپی ورکولی اوبند ولسی.

پدغه کارا ومعامله‌هغه دومره مشهور شوی او پیژندل شوی وچې دډیرو لپاره کلواو باندې واړکسان به هم ورته‌را تللې‌اوروپې به ډیرتر ینه‌یا په ګټه او یا په ګروی وړی .

څومره چې هغه شتمن واو ډیری ځمکې یې په ګروی نیولې وی‌هماغومره دخپلوشتودلاسه‌ستومانه اوسرګردانه هم‌و . سها ربه چې دخوب نه را پورته شونو په‌کلی کې به‌په‌خپلو پور وړو راسرشوله چانه به‌یې دخپلورو پیوړه ګټه کې‌غلی دانی راوړی اوله چانه به‌یې نغدی روپې اخستې یوه‌پینه به‌یې‌د ته‌او بله‌پینه به‌یې‌هلته‌وه‌ا وپه‌یوی لاری به څوځلی ته اوراته او تولەورځ به‌دیوبل پسې ګرځیده اوخپل سر به‌یې‌په حسابونو ګنس کړ .

کله، کله به‌چې‌ځینې کلیوال دچنارستړتیا ،لالهاندی اوستومانې ته‌ځیر شونو ویل به‌یې چې یره‌داسې شته‌او دنیاخودی‌ورکه شی لکه‌چناریې چې‌لری نه یې یوه‌شیبه په‌کراره تیره‌کړه‌اونه په‌خپل کاله کې‌دچاسره کیناسته دومره‌سختې اوحرص‌خوهم خوند نه کوی لکه‌چنارچې را خسته‌ی دی . . .

یونیم به‌لاژیا ته ګړه‌چې‌هغه ګرم نه‌دی چې‌پخپله‌هری خواته‌دهرچا پسې‌منډی وهی ځکه‌چې‌زوی نه‌لری اوخوک

ورته په خپل وخت درو پیوګټه نه راوړی نو مجبوردی چې دخپل هریو پوروړی اومعامله دارپسی پخپله ورشی او خبره اومعامله ورسره پاکه اوخلاصه کړی. رښتیا چې چنار ددغوسره زیاتی شتمنی سره، سره لا لهانده او ستوما نه ژوند لرلو اوپه تول کال کی یی یوه شیبه کښینا ستاواو دمی کولو ته وخت پیدا نه کړ.

کهدخپینو کلیوالو به په هغه باندی ددی ستومانی او ستړتیا لهامله زړه سو زیده خوخپینو به بیاداویل: چې لدینه دی لا نورهم سرګردانه اولا لهانده شی که زوی نه لسری نوولی مزدور نه نیسی او... سبا به مړ یې اوهرڅه به یی تربورانو او میراث خور ته پاتی وي او هغوی به یی په وینو نه جوړ یږي خدای خبرچې څوك به یی په مړي یوه او ښکه هم له ستړګوتوی کړي او که نه؟

دهغه دزوی اولور موضوع او خبری به چې رامنځ ته شوي نو چا به یوڅه اوچا به بل څه ویل پدې لړکی به داهم وویل شو: هغه دیوی ښځی پرځای خلور ښځی کړي خونه ورته خدای لورورکړه اونه دزوی پلار شو. پدې منځ کی به بل را پیدا شو اوزیاته به یی کړه چې څه یا رکه چنارد لوراو زوی پلار نه شو نوپه ښځوخویی ارمان ووت.

په ژمنی به پټاو و ته او په اوړی کښی به دونود سیوری لاندې دچنارا ود هغه دژوند خبر ی او کیسی کیدلی چا به دهغه په ها ره کی یو څه او چا به بل څه ویل ځینو به ورپسی پشیشا خبری کولی اوځینو به لاورته مخامخ په تو کو، تو کو کی دغسی خبری رایاد و لی

چنار به کله کله دغه را ز خبرو ډیرځو را وه چی خپلی ډیري شتمنی اوډ یر و ځمکو تـه به یی پام شواو ددې په څنګ کی به ورته د بی اولا دی موضوع ستر گو ته ودر یده نود خولی نه به یی له ډ یره غمه اوخوا شینی نه یوسوړ او سیلی پورته شو اودزړه په فضا کی به یی دمایوسی او نا امیدی سړه سیلی وا لو ته اوپد ې کی به یی په خیال او فکر کی دزوی لوی ارمان وگرځیده ژړ، ژړ به یی په خپلـی سپینی ډپری کی گو تی وهلی اوله ځان سره به یی وویل :

ـ کا شکی ددې دومره شتو او ځمکو پرځای راته خدای یو زوی اویا یو ه لور را کړی وای ... څوك یوه ښځه نه لري او یوواده نشی کولای ما دادې دیوی ښځی پر ځای ځلـو ر و دونه و کـړل خوددوی د ې دا سپیره برخه ور کـه شی زه یی هم سم له ځان سره سپیره کړمه د یوي هم نه لور وشوه او نه زوی، ځلور واړه

بلاوهلی دی ... ملا یی ماته ده ... دیوی هم او لاد نه کیږی . دځینو کلیو ا لو خبره زه به‌داد ومړه شتمنی او ځمکی څه کړمه نه لور لرمه‌اونه زوی . . زه خو پوهیږم چی میراث خواره می په همدې تمه او انتظار دي چی زه به کله مړ کیږ مه ؟ ؟ . . خداي می دی د خسرا نو سره ښه‌و کړ ي چی زمازړ بنت او عمر ته یی ونه کتل او خپلی لور گانی یی ما ته را کړی . که می اوس یوزو ی لر لی نوو لی به پخپله هری خواته‌د کار و نواو معا ملوپسی تلمه اوداسی به ستړی ومه .

ځینی وخت به چنار له یوی خواد غه را ز فکر و نو او اند یښنوړ یر ستو ما نه کړاوړ یر زیات به ځور یده او له‌پلی خوا به زیاتو گرځید و له پښوو غور ځاوه‌او په تلوکی به یی چاو دونه جوړ شوواود ومړه به ستړی او ستو ما نه شوچی کو ر ته به را ننووت او کوم کار نیم به ورته وران‌ښکاړه شو نو کوتك اوډانگ‌ته به‌یی لا س اوږد کړاود خپلو خلور و ښځو په وهلـو او ډبولو به‌یی شروع و کړه‌چی یوه‌به ترینه خلاصه شوه بله به‌یی را ونیوه اوچی هغه به ترینه وتښتید ه هغه بله‌به‌یی را ایساره کړه . د کورپه انگړ کی به شور ماشـور جوړ شواو تولـه فضا به دچنا ز گوا ښو نو، پټکو اودهغه

دخلورو بښځوژړااوچغووونیولهاوهری بښځی بهورتهتویی ویستلی او زاری به یی کولی چی نوره یی ونه وهی او . . چنار بهچی په غوسه شونوپه خپلو شوند وبهیی غاښونه بښځ کړل له خولی نه بهیی لاړی بهبدلسی او په سپینی ږیری کی بهیی سپینی ځلیدلی دغوسی اوقهر په وخت کی بهیی دخپلودغو څلورو بښځو نهغه بښځه یسره زیاته و هلهځی چنارته بهیی ویل .

ـخدای دی زمابلار اوورور پهدوزخ کی ود روی چیزهیی تاظالم تهدر کولمه . . . کهمی برخهبده نهوای نوتاسره بهمی څه بلا غوښته پلارمی روپیو او پیسو ته و کتل اوزماژو ندته یی هیڅ ارزښت ورنه کـه دازه یی په څه بلا وارولمه؟خدای دی زمادو لـور پیسـی ورتهاورو گرځوی اوپه کفن دی ورتهولگی . . .

لکه څنگهچیچنارد کور نهدباندی دخپلوډ پروپورونو معاملواوکارونودلاسهډ پرستومانهاوسرگردانهوهمدغسی په کور کیهم دخپلوخلو روښځو دلاسه لږمون خوږینی او لالیاندهویا به یی ښځو په خپل منځ کی جنگو نه کول اوناندری به یی وهلی لاسونه بهیی سرهواچول یویبه دیلی نه دسرویښتان ویستل او . . . اویا به ده دخپلو څلورو ښځوسره غالمغال اوشور شور جوړ کـه

دا سې ورځ به نه‌وه چې دچنار په کور کې دې جنګ اوشو رنه‌وې جوړ .

دګاونډ یانو ښځې او ماشومان به خپلو باسونو ته پور ته شوو اودچنار په کا له کې به یې دهغه څلورو ښځو جنګو نواو نا ندر یو سیل اوتماشه کوله ... او ډیرو به لاداهم ویل : چې خدای دې لد غسې یې که او یې خونده‌ژوند نه مو‌یوساتی ...دغو څلورو ښو خو‌یه‌خپل منځ کې سره بیخې وخوړه دالاڅه ژوند دې ... چنار دې خدای خوار کې په کور کې یې دښواو ښځو ر مه جوړه کړې‌ده... مو‌یې دې پرشورما شور اوغا لمغا ل دلاسه په کور کې تنګ ته راوستې یو... ځینې وخت به چې دچنار دښځو په منځ کې خوابدې اوجنګ جدل نه واوچنار به دباندې نه‌ستړې اوستو ما ند راغې اود هغوی په منځ کې به کښینا سته نود‌ا سې‌به معلومیده‌لکه چې دهغوی پلار دې اویاد هغوی خسر ځکه چې دچنار او دهغه څلورو ښځو ترمنځ دعمر اوسن دد‌پرشونه تر څلو یښتو کلو نو‌پورې تو پیر موجودو .

چنار تراخره‌پورې‌دې اولادې ملاستې دخپلوڅلورو ښځو‌په غاړه‌ا چوله اود پرلږ یې دځسان په ښاره کې فکر کاوه .

د نبو ونځی ارمانجن

هغه به چې کله یوا زې له ځان سره کښینا سته او د چور تو نو په سمندر کې به لا هوشو نو په زړه کې به یې ور ټیرشو: که یو څه زمانې دستو نزو سره سخامخ کړې یمه نو یوځه خوسې دخپله لاسه ځا نته دغمونو دردونو، هسوما نې اند یښنو اولا نجو پیتې د رو ند کړې دی او ...

ځینې وخت به چې دهغې کره شو را وژوړجوړشو او هغه به په خپلو خلو ر ښځو په غوسه او په قهرشو نود پیغو ر په ډول به یې و رته وویل چې:

- رنګ سوور ك شه شنډواوو چوښځو سپیر و خدای سې دی درنه پیغمه کې.

بنځې به یې هم پدغه خبر ه ډیری خوابد ی او په غوسه شوی دهری یوی په تندی کې به د غوسې او قهر لیکی او نښې جوړې شوی او وپټ به یې د شونډولا ندی په ځواب کې له ځان سره وویل چې:

- دا ته زموږ سیره یې ا و که نیکه ... ؟ دومره زو ړیې چې په لا ره سم نشې تلی

په تول کلی کې هرو رځ دهغه خبرې ا وکیسې ت ودی او خور ې و ی اوهر چا به و یل چې د اسې پیکه، تر یخ او بې خونده ژوند نوځه پکا ر.

یوه ورځ په ناڅا پې ډول په تول کلی کې دا بو ګنونکی او ازه خوره شوه چې چنا په خپل کور کې په سر موزه تو ګه مړشو خو دهغه په سر ګ دهیڅا ستر ګو ته هم او ښکې را نغلی.

دلور مازیگر توند او قهر جن باد لگیده اوله ځان
سره یې هواته دوړی اوخځلی پورته کولی اود ونو او
غنو څانګی اولښتی یی یو دبل سره جنګو لی او د لمر
وړانګی ورځ،ورود غرونو دځو کونه راکوز یدلی چې
(وزیر ګل) دښیونه کورته راغی دانګړپه ـ ښځ کی ودریده
چې اویوم یی له اوږی نه راکوز کړل او دیوال ته یی
ودرول. بلی ته یی لاس کړاوخپلی پیځی ئی راخوشی کړی.

خوځلی یی له څنګ نه‌میر من (بنا پیر ی) تیر ه‌شوه خوورته یی‌و نه‌ویل چی :

(دریدی) پلاره ستړی مه‌شی.

وزیر ګل پوه شوچی بیادر یدی مور خپه شو ی‌او مروره شوی ده‌نود کوتی دیوال ته‌یی‌ډډه ووهله او په چورت کی کښینا سته په تو کـه یی‌هغه ته ورغیږ کړ او پوښتنه یی و کړه :

ـ دریدی مورې لکه‌چی بیارانه خپه‌شوی یی؟ سړی ستاخونود لته تولی شپی اوورځی له‌ماسره‌په‌مرور تیا کی تیری شوې‌زه‌نه پوهیږمه چی ته به څه وخت پخلا کیږی؟ د استا زړه څو مره نری دی دلته راشه راته ووایه بیا څه شوی ؟

وزیر ګل خپلی‌دغه خبری‌خو ځلی تکرا ر کړی خود بنا پیری دخو لی له ورته هیڅ غږ ونه و اته او په څه کاریی‌ځان مشغول کړ. هغه‌چی تو له ورځ په‌پټیو کی په کلبی اوا وبه خورتیره کړی وه اود غر مې گر می د یر ځورولی اووهلی واود یر ستړی اوستو ماند ونود بنا پیری چوپتیا اوخبرونه کو لو لپ څه‌په غوسه کړ خپله ورانه شوی پګړی یی په سر باند ی سمه کړه او یوځل بیا یی غږ کړ :

-وادریدي سوری! کنه خو به نه یی داغږولی نه کی خبری دی هیری شوی او که گونگه شوي یی ؟

پنا پیری دیو تریخ او مرور نظر سره وروکتل او په غوسه شا نته لهجه یی ځواب ورکړ :

- خدای می دی دښمن کوټ او گونګ کړی ... ته به خومره خوشا له شی چی زه کنه او گونګه شمه ... وزیرگل دنسوار وکوتی په لاس کی نیولی وه چی دهغی پدغی خبری یی وخندل او ورته یی وویل :

-دریدي سوری ! رښتیا دی ستا د دښمن کوټ او گونګ شی. ماتش غو ښتل چی تا په خبرو راولمه ... ووایه ولی را نه خپه یی ؟

هغی خپلی چړی څنی دمخ نه پورته کړی او څپتی یی په سر با ندی راسم کړ د لږی چو پټیا وروسته یی ځواب ورکړ :

- هیڅ دی نه دی کړی .

وزیرگل دنسوار وکوتی پورته اچوله پوښتنه یی وکړه .- نوولی دی یوه شیبه مخکی را ته غږ نه کاوه؟

- هسی

په دی وخت کی دوزیرگل په وچو شونډو یوه نری غوندی خندا راغله د پنا پیری زنی ته یی گوتی وروړی اوورته یی وویل :

ـ ښاپیری ژوند دوه ورځی دی په خوشالی باید تیرشی ... زه چې کله دباندی ستړی شمه اویا سی زړه خپه شی نود خپلی ستړ قیاد لیری کیږ و له پاره ډیر ښه ځای ستا په خوا کی کینا ستل هولمه ... خوته .

دهغی د زړه د باغ غوټی د وزیر گل پد غو خبرو وتخنیدی نوپه ځواب کی یی وویل :

ـدریدی پلاره څوواری سی درته وویل چی ریدی په مکتب کی وا چوه چی د کلی دنورو هلکانو سره ورته ځی خو تا سی خبره ونه منله .. نن سی ورته په وسلوسخ تور او شین وار اوه تولـه ورځ یی سلگی وهلی اوغرمه یی کپ ډوډی ونه خوړه .

وزیر گل دښاپیری پدی خبره چې هغه سی نن ډیروواهه ډیر خپه شو او زړه ته یی دغم یو ه تر خه غو ندی څپه راغله پوښتنه یی وکړه .. :

ـولی دی ووا هه څه یی کړی و ؟

دانگړ په سنځ کی هماغسی توند او تریخ بادلگیده کله به یی دوزیر گل دپگړی ولو نه وران کړه او کله به یی دښاپیری دسرنه تیگری لیری کړ چی هغی په ځواب کی ورته وویـل :

ـسها ر نه تر غرمی پوری ورکړو ،هرڅومره سی چی ورته

ناری وکړی او هرځو سره چی په کور ونواو کوځو کی پسی وگرځید سه پیدا می نه کړ تولهورځ می دهغه په لټولو تیره کړه کورته خوا شینی راغلم او لاس ترزنی خپه کینا ستمه چی غرسه شوه هغه په کور را ننوت زه ورپسی پورته شوسما وپه و هلومی ورته مخ توراوشین واړو .
وزیر گل چی دغه وخت په خولی کی نسوار اچولی و په حیرانتیا یی پوښتنه و کړه :
-هغه چیر ته تللی و ؟

هغی یوه سړه ساه را ښکله او په پښیما نتیاسره بی ځواب و کړ :

-لاسونه می دی په ښند کی مات شی هغه په خپل سرد کلی دهلکا نو سره ښو ونځی ته تللی وچی پوښتنه می تری وکړه چی زویه چیرته تللی وی را ته یی وویل چی دهلکا نو سره مټب ته تللی وم .

په وزیر گل چی ریدی ډیر گران ونو دښا پیری پدغه کار هم خپه او هم پسه غوسه شود خولی نه یی نسوار توکړه وبی ویل:

-هغه خونوکوم بد کار نه دی کړی ولی دې واهه ؟ که اوس در ته څه وایمه بیا به سروره یی او خبری به نه کی .

-دریدی پلاره څنگه دی چی خوښه وي هماغسی وکه.
وزیر گل به چی هر سهار کا رته ، ته نو ریدی به بی دلاس نه ونیو له ځان سره به بی پټیوته بو ته. که ریدی به

بنا پیری چې ددغې خبرو په انتظار وه نو په شونډو یې یوه عجیبه شانته مسکا ونخید له ویې ویل:

-چې دومره پرې خپه کیږې او وایې چې کوم بد کار یې نه دی کړی نو ولې یې په ښوونځې کې نه اچوی هغه دښو و نځې سره د پیره مینه لرې زړه یې نه صبر پیږی هلکان چې ځې دې ورپسې ځور پیږی اومنډې پسې وهې او په ښوونځې کې کله د یو تولګې په مخکې ولاړوې او کله دبل .خدای دې نه کې څه پې ونه شې

پداسې حال کې چې دوزیر ګل په پیړی با ندې د نسوار ولاړې ځنګیدلې د هغې خبرې یې ورلنډې کړې:

-ته ددې خپلو خبرونه وانه وښتې ماته دامکتب د یر مه یادوه زما یو زوی دې زه یې په مکتب کې نه اچوم اوزړه یې په سبقو نه ښمه چولـــې .

بنا پیری دوزیر ګل پدغې سادګۍ وخندل اودخندا داوازسره یوځای یې خبره ورغوځه کړه:

-ماچې دهر چا نه اوریدلی دی وایې چې مکتب او سبق د یری ګټې او ښیګڼې لری.

دهغه ستونی دنسوارو په اوبوو تخنیده دیو وړوکی توخی سره یې ځواب ورکړ:

-موږ غریب خلك یوزموږ یې دمکتب سره څه دی ؟

کله یو ځای او کله بل ځای دمزدوری او خواری پسی گرځو که ریدی په مکتب کی واچوو بیاخوو رته کتابونه ، بکس او نور شیان پکار یږی موږ به یی په څه شی واخلو ؟

پداسی حال کی چی د هغی د څنډو و یښتاد باددښو سره تالی وهلی او دغټو او تورو حیا نا کو سترگو په گونجو کی یی او ښکی را ښکاره شوی په نیولی او نښتی او ازیی وویل :

- سړی چی غریب او مزدور شی نو اولاد یی باید مکتب ونه وایی ؟

ته خو نوټولسه ورځ په کروند و کسی یی دهغه دځور یدو او ژړید ونه څه خبر یږی هغه د هلکانو پسی مکتب ته منډی وهی او ....

وزیر گل خپله غاړه تا زه کړه او یه خبره کی ور ولوید :

- ته نوره خلاصه یی زه به یی هرسهارله ځان سره پټیوته بیایمه اوترسا زیگره پوری به له ما سره وی .

د ښاپیرۍ په زړه کی که څه هم ما یوسی اونا امیدی منگولی لگولی وی اوساړه ، ساړه او سیلی یی له خولی پورته کیدل اود هغه خبرو ډیره ډخوا شینی کړی وډخوویی ویل :

لومړنی تنخا

هر څومره چغې وهلې چې زه له تاسره نه ځمه پرې مه ږده چې د هلکانو سره مکتب ته لاړ شمه او . . . خو دې چغو او ټیټکو دهغه دپلار زړه نشو نرمولای او نه یې کومه ګټه لرله . د کلي نور هلکان به ښوو نځي ته تلل اور یدې به دخپل پلار سره په سړو غرمو په پټیو کې ګرځید ه او ښو ونځي ته د تللو ارمان به یې په زړه کې غزونی کولی .

خو یوه ورځ ریدی په خپل سر خپل ځان دسور او پلار نه پټ په مکتب کې اچولی و موریې تری یوځه خبره وه او پلار خوې تری څوو ر ځي خبر هم نه و . یوه و ر ځ چې پلار یې غوښتل ریدی له ځان سره زمکوته بوځي هغه په کور کې نه و . هغه مکتب ته تللی و . پلار یې ډیر په قهر شو . په بیړه له کوره و وت . مخامخ مکتب ته ورغی خوهغه چې دمکتب په د روازه ورننو ته خپل ډول حالت ورته پیدا شو . یو واړ بی لکه چې دزړه په لمبو او به توی شوی وی د مکتب نظم او فضا څه خاص اثر پرې و کړو یی لیدل چې زوی یې په یوه کوته کې له نورو همزلو سره ناست دی او درس ته په ډیر ځیر غوږ ،غوږ دي .

هغه ته زوي ډ یرخوږ ښکاره شو تولو هلکانو نویې یووار په زړه کې ځای ونیو اوور ته ګران شول .

هغه بیړ ته په بیړه دمکتب له دروازې راو وت او نور په هغه دمکتب نوم ډیر خوږ لګیده او په زړه کې به یې ګرځید ل چې کاشکې د لته د تو لوخوار انو د بچیا نو له پاره ځای وای .

پوره یو کال تیر شو چې زه کور ته را نه غلمه او په
خپل رسمي کار او وظیفه لګیاوم که هر څومره یه مې
خپل امرته زاري وکړې او ور ته به مې وویل چې :
امر صاحب دغه د ی یو کال پوره شو چې ما خپل کور
مسه سترګو ونه لیده او هم مې تر اوسه دهیڅ ډول
رخصتي نه استفاده نه ده کړې زه په کورکې یووزرې
یمه څوك نه لرمه چې زما د کورني اړتیاوې پوره

کاندي زما ددغو غوښتو او دلیلو نو په مقابل کې به زمریا مر ماته داسې وویل:

-ګرېسه زه پوهیږم چې ته په کور کې یو وزرې یې، دیروخت وشو چې ته کور ته له یې تللې ماشومان به دې یا دیرې هغوی به په تا پسې خپه شوې یې، خو ته پوهیږې چې ستاسو په ځانګه کې شپږ مامورین دي خود ځلورو بست همدا سې خالي دي او دهغو ي کار هم تاسود وه تنو ته درپه غاړه دي. دغه ولایتچې دهیواد دنورو ولایتو نو په نسبت د مرکز نه لیرې پروت دي څوك ورته زړه نه ښه کوي چې د لته را شي دیرژرپه ستا سوځانګې ته یو مامور را شي بیا ته کولای شې دیرو شپوته لاړ شې.

زمریا مر هم یو کال خپل کور ته نه وتللې اودپر وظیفه پیژند ونکې سړي وخه یې چې ویل هما غسې یې کول نوماته داجرئت پاتې نه شوچې ورته ووایسمه چې خامخا ځمه.

یو میاشت وروسته دمرکز نه یو مامور نوی زمریا ځانګې ته رامقررشو او راغې. دغه مامور په کارونو کې دیر ښلدو نو زمریا مر دیر خوشاله شو او دپخوا غوندې زمریا د ځانګې د کارو نو په برخه کې اندیښمن

ته وړه همدغه ورځ ماته لیک را رسید لی و او پکی لیکل شوی وچی مورمی نا روغه ده یوځل باید کورته لاړشم لیک می دیوی عرض پا نی سره یو ځای دخپل آمر په مخکی کیښود امر نوی سګرټ لګولی و اوژر ،ژریی ترینه لوګی پورته کول هغه لومړی زما لیک ته هسی لاندی باندی وکتل ، اوبیا یی عرض پا نه ولوستله بیله دی چی څه ووایی یوسیاشت رخصت یی را کړ سګرټ یی خولی نه لیری کړ اوماته یی دسهر با نی نه په یوی ډکی لهجی وویل :

ـ اوس چی ستا سودخا نګی کـا رونـه نه ځنډ یږی اوبو تکړه همکار موپیدا کړی دی څه لاړشه دخپل کـورا و کورنی یوښتنه وکړه .

سبا دوخته دموټر وادی ته راغلمه او دکور په خوا را روان شومه .

مـازیګر وچـی دخپـل کـورپـه دروازه ټکوتم . ماشوما نومی چې دانګړ په مټ کی اوبی کولی پهمایی ستړګی ولګیدلی تواو راښکاره کړی اود دغو نارو او شو را وزو ر سـره چیهغه دی پلار سوراغی لاسونه یی رانه راتاو کړل .

زموږدکور نور ټولهړی روغ وخومورمی په کټ

کی پرته وه . هغه ناروغه‌وه‌څنګ ته‌یی ورنږدی‌شومه سلام سی ورته وا چوه سورمی سر راپورته کړاوراته‌یی وویل :

-زویه‌سترې مه‌شی په خیر را غلی اوس چی لارشی کله به راځی ؟ تا خو بیخی کو ر هیر کړی شکر چی روغ یی . . .

سورمی له یوی خواخبری کولی اوله بلی‌خوا یی زما سر خپل ځانته رانږدی کړ او په تندې با ندی یی څو واری ښکل کړ مه زه هم د خپلی سور په لاسو نووړپر-یوتلمه‌او سچی می کړه اوو رته‌می ویل :

- سوری وظیفه ده څه‌وکړمه !

سورمی زما پدی خبر و په کټ کی بالښت ته ډ ډه وهله پداسی حال کی چی یو ئیم‌توخی بی کاوه ماته‌یی په‌خواږه نظر وکتل اوویی ویل :

- ښه‌ډیرښه چی اوس‌هم راغلی‌شکردی ، تولـه ورځ به‌می په ستر گو ، ستر گو کی گرځیدلی چی‌ددر وازی غږبه جګ شوویل به‌می چی‌ته راغلی .

سورمی دخپلو خبرو سره ساه‌لنډه ، لنډه ئیوله چی خبری یی بس کړی نوپو ښتنه می ترینه وکړه .

- سوری څوو رځی کیږی چی ناروغه یی ؟

هغی دیو توخی وروسته وویل :

- لس دولس ورځی وشوی .

- کوم ځای دی خوږ یږی ؟

هغی بیا دوه‌درې توخی وکړه اودزګیروې سره یی ځواب را کړ .

- زویه زوپ را باندی‌راځی ، سر می ګرځی اوهیڅ شی‌می زړه ته نه کیږی اودشپی می نری تبه نیسی .

په‌وار ختایی می‌ترینه پوښتنه وکړه :

- موری کله ډاکتر اویا روغتون ته تللی ؟

- نه‌زویه دهمدی له‌پاره می ته راو غوښتلی .

زما اودمور ترمنځ چی خبری خلاصی شوی نوخپلی میرمنی ته‌می مخ راواړو اوپه غوسه‌می ورته وویل :

-ایی دې ولی کوم ډاکتر ته نه ده بیولی؟ که دنا روغتیا په او له ورځ دی ډاکتر او یا روغتون‌ته بیولی وای نواوس به‌دومره په تکلیف‌نه وه او نا روغی به یی نه‌او ږدید له

میرمنی می لومړی زما مورته وکتل او بیایی ما ته په ځواب کی و ویل :

-ته فکر کوی چی هغه یوازی ستا مور ده‌اوزماځه نه کیږی ؟ هرڅومره‌می‌چی ورته وویل.

-څه ایې ډاکټرته لاړ شوخو هغې راسره ونه منله.
موږ لاخبرې کولې چې مورمې په خبرو راکړه شوه.
-هغې را باندې ځان مټې کړزه ور سره ډاکټر ته نه تلمه او....
د هغوی نه مې اجازه واخسته اود کورنه راوتمه او دسړک په غاړه دټکسي په انتظار ودریدمه خو ټکسي زما په سخکې تیرشول دسپرلیو نه ډک وو. یوه شیبه وروسته یو خالي ټکسي پیدا شواودکور د دروازې په سخکې مې ودراوه.د کورنه مې،مور راوسته اونیغ دروغتون خواته راوخوځید و ټکسي دروغتون دلوې دروازې په سخکې ودریده او موږ تري را کیوتلو. د روغتون د کتنې په انګړ کې یو زیات شمیر نور-ناروغان هم ناست وو. چاتوخل اودچادخولې نه زګیروی پورته کیدل. دنوبت انتظار یې ویسته. موږ هم په همدغه ډله کې وو. یو ساعت وروسته زما مورته د کتنې وار ورسید سخکې لدې چې ډاکټر زما دمور په کتنې لاس پورې کړي په وآرخطایې مې ورته وویل:
- ډاکټر صاحب دا زما موره د هغې د کتنې او روغتیا په برخه کې پا ملرنه وکړی،
هغه چې تور تیلسکوپ په غاړه کې اچولې واوژر،ژریې

ناروغانو ته نسخې لیکلې ماته دیوې غوسې سره ځواب راکړ .

ـ دزایا وظیفه ده .

بداسې حال کې چې په خپله خبره دیر پخپله نه وه ورته مې وویل :

ـ ډاکټر صاحب ښښنه غواړمه .

ډاکټر له یوې خوا زما دسور په کتنې لګیا واوله بلې خوا یې ماته زما دځواب په پرځه کې داسې وویل:

ـ زما دلاسه چې څه پوره وی هغه به درېغ نه کړم بیغمه او سه :

د ډاکټر خبرې به کله ، کله د ناروغانو په زګیرو یو او دوی ، وی په ناروکې ورکې شوی .

کله چې زما دسور کتنه پای ته ورسیده ډاکټر دیوې سکا سره وویل :

ـ ته هسې وار ختا یې د سور ناروغې دی دومره داندښنې ورنه ده دیر ژر به جوړه شې خو هو ورځې باید په روغتون کې پاتې شې .

دډاکټر داو ګیرنې را سره خوشالې پیدا کړه ورته مې وویل:

ـ کومو ودانستاسود خواخوږی ګه مننه .

داکتر سره لدی چی دیرستری معلو میده خو دنارو-
غانوسره یی دخبرو په وخت کی په تندی کی دمهربانی
نښی له ورایه ښکار یدی او هریو ناروغ یی په ډیری
پاملرنی معاینه کاوه. هغه ما ته زما دمور دبستر ید و پاڼه راکړه
اومور می درو غتون په دویم پوړ کښی بستره شوه.

کله چی زه د رو غتون د دویم پوړ په دالیز کی
راتیرید مه یو سپین ږیری سړی چی په ږیره کښی یسی
دورواوخلو ځای نیو لی ود خو لسی نه یی پرله پسی
زګیروی پور ته کیدل زما له ستر ګو شو د هغه
د کمیس ګریوان او د خړی کرتی . ځینی برخی
په وینوتکی سری وی اوهم یی و خکی او زنه په وینو
سره لړلی وه. هغه ساه لنده ، لنده نیوله اودخولی نه یی
پرله پسی زګیروی پور ته کیدل هغه یی په تسکره کی د
جراحی دعملیا تو کوټی ته راوړی و .

هغه زماستر ګوته اشنا چکساره شوورنسږ دی شومه هغه
غریب یو کال مخکی زموږ په کوڅه کی له موږ سره
ګاونډی و .

غوښتل می چی د ډیښی اوناروغی پوښتنه یی و کړمه خو
هغه دخبرونه واو منځ یی د نارنج غوندی ژیړ کړ ځیدلی
و. زما پوښتنه اوخبری ناو یلی پاتی شوی.

ماته داکتر ویلی وچی مورته می باید ژردر مل را ورسومه.

په بیره در ماتون ته لاړ مه چی بیرته راغلمه هغه په دالیزکی نه و . دغه ورځ را باندی په سوګردانی او خواښینی سره تیره شوه .

سباچی رو غتون ته را غلمه دالیزکی دهغه دیارلس کلن زوی خپه او وار ختاو لاړ و پوښتنه می ترینه وکړه:

-ته دلته څه کوی ؟ هلکه ته شریف نه یی ؟

-یمه...

هغه یوه ستړی ساه را ښکله لاس یی مخامخ کوتی ته ونیو اوو یی ویل

- پلارمی پرون غرمه په هغی کوتی کی بستر شوی.

په حیرا نیتا سره می وپوښته:

-څه پری شوی؟

دهغه په ستر ګو کی او ښکی وګرځیدی ستونی یی د ژړا لاسه ډک ،ډک ګیده ځواب یی راکړ:

- پرون سهار چی هغه د سړک په چا روکو لو لګیاو دبا دد لګیدو سره یی دسړک دوړی او ګردونه په خولی نغوتلی و . په هغه په دغو ز یا تو دوړو تل زوپ راوست هغه خو نوله پخوا نه دسړو ناروغی لروده اود یرزیات یی

ګمزوري کړي و . په‌دې ډول سختي کارته ، ته‌په لاره‌سم نه‌شوتلې څووا ډې ډاکترانوورته ویلې وچې‌ددوړونه پاید ځان وساتې .

پرون دسړك په غاړه پرې زوپ را غې اود خولې نه یې وینې را غلې او له خبر واو پاځیدوووت .

شریف‌به خبرې کولې اود ستر ګونـه یې داو ښکو باران راو ړیده خپلې او ښکې‌په یې کله‌په خپله لمنې پاکولـې اوکله‌به‌یې په لستونو ماتړی‌سر په‌سرځه هغه !ودغه پوښتنې و ګـړې او هغه بیا خپله خبره داسې شروع کړه :

- ګله‌چې موږستا سود کوڅې نه‌لاړو پلارمې ځانته همد غه‌کار پیدا کړا ودې سهار او مازیګرله خوا یې سرکونه جارو کول . همه وخت چې سهارلا دو مره ګنه او ګونه نه وه دسړك پـه جارو ګولو لګیاو چې دغه ناروغې ور پښه شوه .

هغه غوښته چې خپلو خبروته دوام ور کړي خو په ژړا اواند پښتو کې ترې هیرې شوې او غلې شو .

زه‌دهغه پدغوغم لړلوخبروخوابدې شومه او په زړه کې مې دخو اشیتې او اند پښتو نه د ګې خبرې تیرې ولې ورته‌مې وویل :

- ښه نوې اکتران څه‌وا یې ؟

هغه لومړي یـه خپـل زاړه دسمال خولي او ښکی و چې کـړی یـوه او پـده سایـی را ښکله او بیا یې ځواب راکړ :

- د اکتران وایی چې جوړ به‌شي‌خو ډیری پیسی یې لګي تاته خو نوز موږحال ښه معلوم دي د اکترانو راته ویلی دي چې پلار تـه دی دوه ټوتله ... وینه پکار ده اوډ پرژریې پایـد راوړ سوی او کـه نه نو ډیر ګ ویره یې شته خو ... موږسره دوینی پیسی چیرته‌دی . داوخت‌دشر یف ګړیو ان په او ښکو لونـد شوی واو یو نیم ځاځکی یـی لا ندی ددالیز پـه سیمتو و لیـده دهغه نه به‌په ژړا کی‌دخبری سراو پـای ورکـاوګـډوډ شوهغه لا په خبرو لګیا وچې په څنګـه کی یې یو تیتکی غوندی سړی چې دښاروانی دکارګرانو خړه دریشی یې اغوستی وه اومخ اوږیره یې دهغه دپلار غوندی په دوړو او ګرد ونو کی پټ وو در ید لومړي یې سلام واچاوه او بیایی دخپل جیب‌نه‌پا کټ‌راووېست او شریف ته‌یې ورکړ اوو یې وویل :

- واخله دادي دپلا رلومړنی تنخاده .

شریـف دخپل پلا ر تنخا وا خستله یـوه تـرخه او

لیونی

نا اشنا مسکایی شو نه و ته را غله او په زړه کسی
یی تیرشوچی څه دپلارد وینی چاره خومی وشوه
شریف له موږ نه ر و ان شو او په بیړه دروغتون نه ووت
او د و ینی پسی لاړ پوسات وروسته راورسید ۱ او دوینی
دوه بوتله یی په لاس کی نیولی وو .
کله چی په دالیز کسی دخپل پلار کوتی ته ور
ننوتی کیده هغه یی په تسکر کی دکوتی نه را وو یست .
شریف چی خپل پلار ته و کتل نود وینی دو اړه
بوتله یی له لاسه ولویدل . دبوتلی وینی په دهلیز کی
خورې ورې شوې

لونګین ګا کا خپله توره پیره په بز ګری کې سپینه کړه او
ځوانی یې دیوا وبلی په خواری او مزدوری کې خاوری شوه
هغه وروسته دشلو کالو مزدوری او خواری ایله همدومره
وکولای شول چې خانته یو جوړه ګلبی ځوابان واخلی
اود کلي دځینو ځمکه وا لو ځمکې په شلور مه او پنځمه
وګری هغه پیرساده سړی وتوله ورځ به په خپلو کارونو
لګیا واود چاخبره دخلی خواری او غریبی په خولو کې

دوب‌ونو څکه یې د ډیرو کارونو اونا اوزګارتیا له امله په ژمی کې پټاوی اواوړی کې سیوری ونه لیده .

یوځل به‌چې په کرکیلسی لګیا شو نو بیا به‌یې ځان اوجهان دواړه له یاده‌وتلی و .

که څه‌هم داسی اتکل کیده‌چې دهغه عمر به‌د څلویښتو اوپنځه څلو یښتو نه زیات نه‌وی‌خود ډیروغمونو اوکارو له امله یې خپله ځوانی دلاسه‌ور کړی‌وه‌داسی‌ښکاریده لکه‌چې‌داویا اویا اتیا کلونووی، په تندی کې یې پیشمیره ګونځی وی اودډیری تول‌ویښتان یې دما لو چوغو ندی سپین‌شوی وواوهم یې دخولی سخامخ غاښو نه‌د نسوارو له امله لویدلی‌وو. همدغه سبب وچې‌د کلی‌وړواو غټو به ورته لونګین کاکاو یلی اوهرچا به کوښښ کاوه‌چې دهغه‌دنامه سره‌د کاکا کلمه‌ملګری کړی .

هغه‌د خپلی ښځی سره‌یوځای دغوایا ئو دغوجلی په‌څنګ کې په‌یوی وړی اوتوری کوټی کې‌ژوند کاوه.

هغه به‌هره‌شپه څوځلی‌دخوب نه‌پورته کیده‌او وغوایا نو ته‌به‌یې په اخور کې‌واښه اچول اوځارنه به‌یې کوله دغه کار دهغه بیخی یوعادت ګرځید لی‌و.

کله‌یه‌چې هغه له‌خوب نه راپورته کیده نود پښوپه اوازبه‌یې ښځه‌هم‌ور سره‌سمه له خوب نه راویښیده.

کومه ورځ به چې کار و نه زیات‌واو یا به د کرکیلی وارونو لونګین کاکا به‌ډیر ستړی کیده دشپې به کله‌په یوارخ او ښته او کله په بل. د بدن غړی به‌یې خوږیده اوشپه به‌یې په ویښه سبا کړه ښځه به‌یې هم ورسره‌و ویښه ناسته وه دوارو به دخپلې غریبۍ اوبې اولادۍ خبرې او کیسې کولې.

ځینې وخت به‌چې دهغه ښځه نا امیدۍ‌اوخو اشتیې اواخسته نویو سوړ اوسیلې به یې‌وویست اووبه‌یې وېل :

-زه نه پوهیږم داز سوړ برخه ولې‌داسې خوارې ده چې نه خوله ځمکه لرواونه اولاد؟

دهغې دسړ واوسیلیو قافلې به‌لاد کوتې په فضا کې روانې وې‌چ لونګین کاکا به یې ژرخبره ورلنډه کړه‌ورته ه‌یې وویل-

-پتاسې داد برخوویشدی پدی کې چورت‌وهل نه‌دی‌پکار. په‌هغه باندې دخپلې ښځې دغولنډ و جملو دوسره اغیزه کړې وه چې په خبرو خبرو کې د چورتونو اوښکو ئوپه سمندرکې لاهو شوې واو په‌خولې کې بې خبرې بندې بندې کیدلې او چوپ به پاتې شو.

هغې به پرې غږکړل او پوښتنه به‌یې وکړه.

-واسر په ولی چوپ پاتی شوی ،څه درباندی وشو؟

هغه به دپتاسی د پرله پسی چغو اوپو ښتنو له امله خپله غاړه تازه کړه دزړه په زور به یی ځواب ورکړ:

-پتاسی هسی می په زړه کی یوارمان وګرځیده ؟

-دخه شی ارمان ؟

هغی په یوی درد ناکی لهجی پوښتنه وکړه .

لونګین کاکا په خپلی سپینی ډیری لاس راتیر کړ غاړه یی تازه کړه اوویی ویل:

-پتاسی دلور اوزوی ارمان زما په زړه کی خونوبل ارمان نشته .

لکه څنګه چی دلونګین کاکا له پاره دپتاسی لومړی خبره دخواشینی سبب شوه همدغسی دهغه چوپتیا اوبیاځواب دپتاسی دزړه داور لمبی دامی تیزی کړی لکه په تنارہ ګی چی اوربل شی .

دهغه پدغو خبرو پتاسه ډیره خواشینی شوه احساسات یی غمجن شول له ستر ګو نه یی داو ښکو سرغاری توی کړی .

لونګین کاکا په خپلو خبرو پښیمانه ودخبرو سلسله یی واروله اوو یی وویل :

-پتاسی ! په (فتی) می د پرزړه بد شو ، هغه راته

پرون دخپل زوی دلاسه په خپل سربا ندی خاوری باد کړی اوویلی یی کا شکی داسی زوی خو سی نه لرو دای .

ـ زوي یی څه کړی ؟

هغی په حیرانتیا او وارختایی دغه پوښتنه وکړه .

لونگین کاکاد کوتی په تیاره کی خپلی ستر گی ورپولی او پرده ساه یی را ښکله او ځواب یی ورکړ .

ـ د (فتی) زوی دخپلی سور گانه پته کړی او چیرته یی په جواری کی ایښی او بیا للی ده .

هغه ، خبرو دپتاسی دفکر و نود قافلی سخه پلی خواته وگرځیده ویی ویل :

ـ یره داولاد لرل یوغم او نه لرل بل غم .

هغی لاخپلی خبری نه وی خلاصی کړی چی لونگین کاکا ترینه وار واخست او بیر ته هما غو میخکنیو خبرو ته راوگرځید او وبی ویل :

ـ پتاسی لکه څنگه چی خدای راته غوایان راکړه دکلبی خاوندان یی کړ و همدغسی به یوه وځ ځمکه او اولاد هم راکی .

هغه ډیر کوښښ وکړ چی داسی څه ووایی چی ښځه یی پری یوځه ډاډه شی او دا وسیلیوا یستلو او اوښکو

توپو لونه لاس واخلی خوولی دبی او لادی خبری او خیال دپاسی دزړه په تهو نومالګی دوړولی او خوب او خندا یی تری هیر کړی و نود یو هسوړ او سیلی سره یی وویل:

-زه پوهیږم چی زما دسپری به دغه ارمان پوره نه شی یوه شیبه هغوی دواړه غلی پاتی شوا و د کوتی په تیارو باندی چو پیتیا خپلی منګولی کیښودی.

دلونګین کاکا فکر و تخنیده بیا یی په خپلو خبرو د کوتی چوپیتا ماته کړه:

-پلاسی ا ته ولی دیره سودا کی ما خوب لیدلی چی خدای به زوی را کی او دا ارمان به مو پوره شی.

خدایزده دهغی زړه کی څه ورتیر شو په کتو کی کښیناسته وینی خندل او په خندا، خندا کی یی دهغه خبره و رغوځه کړه او وینی وویل:

-سړیه تول عمر دی دلویو، او یو خلکو سره تیر کړ خود سادګی نه وانه وښتی که داسی دخوارانو خوبونه رښتیا کیدلای نو خواری به نه وه.

دلونګین کاکا په وچو شونډو وهم دخندا څپه راغله او بیا یی هماغه خبره په بله بنه تکرار کړه:

-دادی وبه یی گوری چی زما خوب رښتیا کیږی او

که نه ؟ یوه‌ورځ به دزوی مورشی .. . مخکی له مخکی ورته نوم خوښوه .

پدې خبرودهغی په زړه کی ریښتیاهم امیدونو عزونی وکړی اود اطمینان ساه یی وو یستله او ځواب یی ورکړ .

-ته یی دنوم نه خلاص یی . . خدای‌دی‌زوی‌را کی نو مونه ډیر دی داسی نوم به پری کید و چی ستانوم ته نږدی‌وی .

لونگین کاکا ورته په خندا وویل :

-لکه څنګه ئـوم ؟

دهغی په وچواو سپیر وشوند وداخل دخو اشینی پر ځای مسکاو گرځیده دمسکـاسره یی ځواب‌ورکړ .

-ولی رنګین نوځـه ستانوم تـه نږدی او ورتـه نه دی . ؟

دغه نو م دهغه ډیر خوښ شو نوپه خپل غمجن زړه کی یی په‌زاریواودعا گانولاس پوری کړاود لوی‌خدای نه یی‌وغوښتل چی یوزوی ورکړی اودد غودو وبیوز لو انسانانو ارمان پوره کاندی .

دشپی توری تیاری دهغوی په کوټه را ننوتلی هغه ووت او غوا یاتوته یی په اخـور کی واښه واچول

دا سمان په لمن کې ستوري داسې چوپ وولکه چې د دوی خبرو اومرکوتـه یې غوږنیولې دی .

دشهو اوورځو کاروان خپله اوږده لارې وهله اولندوله اوپـه دوړ اوګـرد دو نو کـسې یـې هغوی خپله ساه ایستله چا به ویل چې دلو نګین او پټاسی توکی ټکالی به ړښتیا کیږی او خو بو نه به یې حقیقت پیدا کوی . پټاسی سره داولاد تمه او هیله پیدا شوه . یوه ورځ یې لونګیین ته پټ څه وویل .

لونګین کاکا ورځ په ورځ ښیر ته ځوانیده او په زړه کې یې ارمانونو توپو نه وهل . دمخ په ګونځو کې یې د خوښۍ نښې پیدا شوی همدغه راز د پټاسی په زړه کې ډیرلوی، لوی ارمانونه ګرځیدل اولو ییدل.

وروسته دځو میاشتود هغوی کره زوی پیدا شو اود امیدونو د باغ مړاوی غونـسی یې وغوړیـده .

دزوی د پیدا کیدو سره سم دهغه کړوپه ملاو اسمه شوه اود مخ او تندی ګونځی چې د کروندو دوړپکی ځان نیولی واواری شوی د هغوي په زړه کې د خوښۍ اوښادۍ نوې دنیا جوړه شوه هغوی مخکې له مخکې زوی ته (رنګین) نوم تاکلی و . همدغه نوم یې پرې کیښوده ددغې نوی اوارمانجن ګل په غوږ یې ود هغوی په

کور کی خندا او خوشالی هم را ننوتلی په قول کلی کی اوازه خوره شوه د کلی او کور نو او ښځی به مبارکی ته ور کړه را تللی .

شهی او وروڅی هماغسی پودبل پسی و تلی زوی یی وروره ورو راغونډ کړه.

رنکین چی دخپل سور او پلارد ژوند دورو ستیو شپو او ورځو یکی یوزوی و، نو په دوارو با ندی دخپل ځان اوجهان نه هم ډیر گران و. لکه گل غوندی یی دهغه په پا ڼه کی هغه کوله لونگین کاکا به غوښتل چی هغه یی یوه شیبه له ستر گو لیری نه شی او پتاسی به هم هغه کوله چی تو له ورځ یی ور سره زوی په خنگ کی ناست وی او د توتی غوندی ورته خوږی خبری کوی .

هروخت به د هغوی ترمنځ دهمدغی خبرو په سر شخړه جوړه وه. خو کله، کله به لونگین کاکا زور شو او هغه به یی له ځان سره پتیو او کروند وته بوه پدی کار کی د لونگین کاکا دوه مقصد و نه ویو دا چی دهغه یوه شیبه بیلوا لی ورته سخت و او بل یی غوښتل چی ورو، ورو هغه د کرکیلی دچارو سره بلد تیا او اشنایی پیدا کا ندی.

یوه ورځ چی د بر کلی- دپتیو د کر لو وا رو نو هغه خپل زوی رنگین په خپلو اوږو کښینا وه او له ځان سره یی روان کړ څو نگه چی دمنی رومبنی ورځی وی نه سا ره وو او نه

گرمی . لونگین کاکا په پټیو کی په کلبه لګیا و او رنګین دپولی په سر په لو بو بوخت و او ځانته یی کله د لوټونه کوټنی جوړولی او کله یی ګوچنی ، ګوچنی سر کونه - ویستل کله به چې اونګن کاکا چورتونو په سر واخست او ستړی به شو نوغوایان به یی د پټی په منځ کی ودرول او رابه غی رنګین به یی داسی په مینه ، مینه بڼکل کړ چی ګوندی چرته تری پرد یسی ته ځی .

پدی به د هغه زړه ډاډه اوخوشا له شوا و د چورتو دسمند زنه به راووت . ځینی وخت به په فکر کی لاړ او څه نور خیالونو به وړ سره پدا شول .

هغه په خپلو رنګینو خیالا تو او چورتونو کی ډوب تللی و او خپل لاس یی په لاړی کلك ایښی و او دغوایانو پسی روان وچی د رنګین د خولی نه یوه ناخاپی درد نا که چغه پورته شوه .

اونګین کاکا غوایان ودرول او ځان یی خپل زوی رنګین ته راوړا ساوه . دهغه په بڼکلی مخ باندی خولی راماتی وی او خوله یی دځګونونه د که وه هغه د پولی په پوی سوری کی لاس منډ لی و او سا ر چچلی و . دهغه سر یسی په خپل ز نګون کښود پسه خپلو سړو او تړ مو او بڼکویی هم خپل مخ او ګر یوان لوند کړ او هم یی

درنگین سخ او گریوان. لونگین کا کا کولیه پر پښوده او په سنده یی خپل سارچپلی زوی کورته راوړ. موریی چې دغه حال و لیدنو په چغو او ژړا یی لاس پوری کړ.

پتاسی دخپل سرتوګ ویښتان په خپلولاسونو وویستل اوګریوان یی په ژړا، ژړا کې ترپښو پوري ځیري کړ

دلونګن کاکا په سخ اوتندي کې یا بیشمیره ګونځی پیدا شوی خود غوګونځو دتیرووختو نودګونځو سره ډیر زیات توپیر درلوده.

هغه په ملاکروپ شود ستر ګودید بی دلاسه ورکړ په لاره سم نه شوتللی توله ورځ به یی سر په زنګون اینښی و اوچو رتونه به یی وهل. دښځی حال یی دهغه نه زیات خراب و.

یو وخت داسی هم راغی چې هغه به بیر سر، ځیری ګریوان او پښې ابلی بښی دکور نه راختا شوه په هډیره کې به دیو قبر ارخ ته کښیناسته اوپه هرچا به یی چې ستر ګی ولګیدلی نو غږ به یی کړ.

ـ دلته راشه درنګین قبردادی دهغه سره خبری وکه. هغه له موږ نه مرور شوی دي راشه ورته وو ایه چې له ما

سپیره

سره کوورته لارشی . لکه‌چې هغه‌سانه پژنی ؟ زه‌خودهغه موریم موره . .

اوس پتاسه په (لیو نی پتاسی) مشهوره شوي وه. اوپه کوشو کی به‌ماشو سانوپه لوتو اوتیروو یشتله‌او چغی به‌پی‌پسي وهلی چی‌هغه‌ده لیونی راغله .

(محوندی) چې سرشو نو دکورتولی لانجی اوسرګردانی
دهغه ښځی (ښارو) او شمارس کښ زوی (بازی) ته
ورپه غاړه شوی .
که څه هم محوندی دیر غریب واودژوندشوی او ورځی
یی په خواری کی تیری کړی وی خو هیڅوخت یی چا
ته دسوال له پاره لاس اوږد نه کړاونه یی دچامنت
په سر واخست .

هغه به داخبره ډیره کوله چې دخپل لاس ګټلی ترهر څه زیات خوند کوی او سړی چې روغ وی نو پکار کولواو زیار ګا للو بنه بنکاری. چې سهار به شو نو څوندی به ډانګ په اوږه کیښوده او سو کړک به یې له ملانه وترلوله کوره به راووت په کوڅو به راسر شو دکلی لنګی غوا ګانی ،میښې او غوایان به یې راټول کړ ل او دپیولو او څرو لوله پاره به یې راغه او دښتو ته بو تلل او چې مازیګر به لمر پریواته هغه به دکلی پاده بیر ته راووسته او دهر چا څاروی به یې پرې وسپاره او ستړی ستومانه به دخپل یو ډانګ سره خپل کورته راغی.

ورو،ورو هغه په کلی کی په پادوان مشهور شواودکلی وړو او غټو به ورته د څوندی پر ځای پادوان وایه څوندی دژوند انه ستو نزواو غریبی دومره پوخ کړی وچې هیڅکله یې دا په خیال کې نه ګرځیده چې ځینې کسان ولی ورته خپل نوم نسه اخلی او څنګه ورته دخوندی پرځای پادوان ناری وهی؟ دپادوانی دغه ستړی اوستو مانه کاراوړی اوژمی دهغه په غاړه و. ګرمی او یخنی دواړو دهغه مخ تورا وړلی و.

یوه ورځ چې داوړی ګرمی خپل اخیری زور لګولی واود چا خبره د ګرمی اوربل ونوخوندی دکلی پاده

راغه ته بوتله . څارویود وښوا و گیاو په خوړ لو پیل و کړ اوهغه ورته د گرمی دڅپو اویر غلو نو لاندی په یو گټ کښینا سته کله به یی دڅارو یوخوا ته کتل او کله به یی خپلی ستر گی غولو یو اود غرو نوڅو کو ته واړولی . چی غرمه به شوه نودراغه اودښتو گا نی اوخوری به د گرمی اوتود وخی لـه لاسه دو مـره سره اوتا وده شوی وچی چـاو ربا ندی پښه نشوه ایښودلای دڅوندی تول وجودپه خولو کی ډوب و اودمخ خولی یی په ډیره راسا تی وی او څا څکی څاڅکی به لا ند ی تو یدلی او په خاورو گی به ور گیدلی .

داوړی دور ځودغی سختی او کلکی گر می هغه سخت او کلك نا روغه گړ نو گله چی هغه سا زیگر دراغه نه گلی ته ر اغی او هرچا ته یی خپل څا روی وسپارل نو بد اسی حال گی خپل کورته ننوت چی ډیری کلکی تبی ئیو لی و ژبه یی په خولی گی وچه ، وچه گیده او په ډیری سختی سره یی خبری کولی .د (بنا رو) چی پری ستر گی و لگیدلی نو پوه شوه چی ځوند ی ی کلك نا روغه شوی او په راغه گی جل وهلی دی نوژر یی ور ته په کټ کی یوزور لمښی وا چاوه .

هغه چی په کټ گی پریوته نو نا روتر ینـه پو ښتنه و کړه :

د(بازی) پلاره څه درباندی شوی ؟ تهخونن بیخی د خبرونه لویدلی یی .

دهغه د خولی نه چی ددردو نو سره یوځای سخت تمپه پور ته کیده او شوندی یی و چی او توری او چتی وی وویل :

-پوښتنه مه کوه د (بازی) موری ! ناروغه یمه خدایزده که ددی ناروغی نه زه بیاجوړ شمه په تول وجود کی می دردی او ژر ژرتیری کیږمه ...

د(بارو) په مخ چی له خپګا نه ئړی خولی راماتی وی او ژړ ، ژړیی د زړوکی په پیښکه پا کولی دیو سوړ او سیلی سره وویل :

- میراته غریبی اوخواری دی شی اورد و نولاندی یخ سیوری ته ناست وی اوته داوړی پدغی سختی گرمی کی په راغه او د بټو کی گرځی اودکلی غوایان پیایی .

بارود خپل میړه څوندی د ناروغی له ملهسارهاوسیلی و یسته اودکټ سرته ورته غمګینه ناسته وه او سجان یی تری شړل .

دیوسات نه بل سات ته دهو ندی ناروغی سختیدله او زیاتیدله او بی واره زګیروی یی له خولی نه وتل چی په ارخ به واوښت نودواخ ، واخ سره به یی کړه چی :

ـد (بازی) سوری پورته شه یخی اوبه راته راکه...
وی خدایه مړ شومه او...

دهغی دستر گواو هکی به د سخ او تندی دخولو سره ملگری شوی خواب به یی ور کړ :

ـد (بازی) پلاره گرمی وهلی یی یخی اوبه درته چه نه دی خلك وایی دغسی ناروغی ته یخی اوبه ډیری بدی دی. خوندی یه چی دتبی اوتندی دردیه سرواخست دزگیروی سره پوځای به یی غیږ کړچی :

ـد (بازی) سوری نوری خبری پریده دخدای د پاره یخی اوبه را گه تول بدن سی او رواخست په گوگل گی سی اور بل دی او...

چارو به چی د هغه پر لسه پسی اوبی واره چغو مجبوره کړه نوژر به یی د خاورو گنده ولی داوبو نه دلك کړاو خوندی ته به یی ور کړ او هغه به په خپل سر راو اړو .

شپه راغله اود خوندی ناروغی لا پسی زیا ته او گلکه شوه . هر خوسره چی ور ته هغی دوا لی بوتی ویشول اوتوله شپه یی هغه ته ور کړه خوولی خوندی پری بنه نه شو اونه یی پری د خوږ واو درد ونو بیتی کم شو .

د(بارو) سره دهغی زوی (بازی) هم تولهشهپه ویښه تیره کړه اودخپل پلار دنارو غی له اسله ډیر زیات خواشینی و.

دغه شهه په ځوانۍ باندی دنارو غی په درد ونو اوز گیرو یو کی او په بیمار ۍ او بازی په غمو نواو اندیښنو کی تیرهشوه. سهار ځوانۍ بیخی دخوځیدونه لویدلی واوپه ډیرزور سره یی یوه نیمهخبره کوله.

سهار په کلی کی دغوایانو، میښو اوغوا گانسو خاوند انود ځوانۍ همامغه غږته چی (مالونه مورا اوباسئی) غوږ نیولسی و خود دغه اواز انگازی په کوڅه گی ورغلی شوی وی.

ځینو په لهځان سره وویل چی:

-ځوند یه! سرخوږلی شی داته لاځنگه پادوان یی؟ دغلی دانی وخت چی راشی نود هرچانه تـه مخکـی ژمویږ دگـوزپـه دروازه کـی ولاړیی گـودی دی پهشاوی او..

بارو اوبازی چی هرځومره لاس اوپښی ووهلی او هرځومره یی چی ځانونه به ژړا اوو یر ستـری کـړ خو ځوندی لدغی نارو غی نه جوړنه شو، اوشیبه په شیبه یی حال خرابیده. دغهورځ هم په ځوانۍ باندی

په درد و نواوپه بنارواو بازی باندی په ژړا اوغم تیره شوه . شهه راورسیده نیمه شهه چې دآسمان نه ستورو دغودری بیوزلواو ګړیدلو انسانانوته په حیرانتیا سره را کښتل دځوندی ساه وختله اود بنارو او بازی سره یې دتل له پاره سخه بنه وګړه .

بنارو اوبازی دواړو تو له شپه وژړل اولې، لمې اوښکې یې توې کړې سهار ځینې کلیوال دخپل پلاد وان په سړی باندی راټول شول او هغه یې تورو خاورو ته وسپاره .

څومره چې هغه خپله بښځه (بنارو) اوخپل زوی (بازی) په خپلې سترګې تیا سره دستو ماني او غمونو نه لیږی ساتلی وو هماغومره اوس د ګړ او نواولالهاندی سره لاس اوګریوان شول .

لس دولس ورځې لا نه وی تیری شوی چې ځینې کلیوال پدی فکر کې شوو چې دځوندی پر ځای کوم بل پادوان و نیسی .

(بنارو) چې لدغې خبرې نه چا خبره کړه نود کلی مشرته ورغله اوورته یې په ژړغو نې توګه وویل :

- انا رګل ګا ګازه خبره شوی یمه چې تا سو ګوم بل

پادوان نیسی زما میړه څوندی ستاسو پادوان وهغه که مړدی نوشکر زوی خولری نوو لی تاسو بل پادوان نیسی ؟ که تاسو بل څوك پادوان ګړی نومونه یه څه ګوو؟ چیرته یه پدی ګرمی کی دمزدوری اوخواری پسی څو؟

انارګل ګا ګاورته په څواب کی یه خندا سره وویل:

ـ ستا زوی چی دغه کار کولای شی نومونه یه ولی بل څوك پادوان نیسو دغه کار سر نه همدغی نن و رځی ستاد زوی شو.

چاروډ انارګل ګاګا پد غه خبرو دا ډه شوه بیرته ګورته راغله اوزوی ته یی وویل:

ـ بازی جانه زویه! پلاردی خدای وبښه چی ژوندی ونوزه او ته دتو لوستړونه بیغمه و. هغه به ګټل او مونه به خوړل خو اوس چی هغه له موز سره نشته نومجبور یو چی لاس اوپښی ووهو اوکار و کود ګلی خلکو څانته ګوم بل پادوان نیوه خوزه انارګل ګاګا ته ورغلمه زاری می ورته وکړی چی دګلی پادوانی بل چا ته ورنه کړی او سوبه ته یی پریدی. هغه راسره ومنله نوزویه سر له سبانه به دخپل پلار څوندی دګلی څا روی سهار راغه ته بیایی اوسازیګر به یی بیرته ر اولی خوګوره چی ماړه یی وساتی ؟

بازی دخپلی سورخبری ومنلی اوورته یی وویل:

ـ څه ده موری ... همداسی به ګوم ...

دښارو په زړه کې د یوې ناآشنا خوښې څپه تیره شوه هغه یې په تندي څپکل کړ شکر ونه یې وویستل اوورته یې وویل:

-زویه شکردی چې ته خوئې که ته هم نه وای نو ما غریبې به څه کول او...

سهار به دچرګ بانګ او ملا ازان سره سمه پا روپورته شوه او بازي به یې له خوبه راویښ کړ هغه به خپل لاس او پښې پریمنځل سوربه یې ورته د تروود که کاسه اوسورسك په مخکښ کیښو ده او هغه به و ر ته ګپینا سته او تر پنه تاوبه شو اوپوخه به یې لاد ملانه و تاړه.

په کور و نو به را سرشو یوی دروازې اوبلې دوازې ته به ودریده او ناري یې وهلې څاروی موراوباسئې چې راغه ته یې بوخمه هلی ژرشئې ناوخته کیږي.

کله به چې د کلي تول څاروی تول شول نو بازي به مخکې کړل اومخ په راغه اودښتو به یې بوتلل اوترمازیګره بوري به یې پیول اوخرول څاروی به په وښو لګیاوو اوبازي به ورته دغونډې په سرناست و اوپلار به یې په ستر ګو کې ګرځیده. دهري و رځې په تیریدو سره بازي دباد وانې په ګارکې بدلیده اودهر چا څاروی ورته معلوم شوی و نو ځکه ترینه دځا روپو خښتنان دیر خوشاله و. هغه به چې ماښام کورته راځې نوخپلې مور ته به یې دراغه او دښتو دستونزو او ګرمۍ کیسې اوخبرې کولې.

مور به یې ورته په خوند خوږ نیولې وپه خوله به یې

لوگری

هیڅ نه ویل خو په زړه کې به دهغه په ستونزو او ستومانی
ډیره غوږ ډلله .

بازی به چې هر سهار په کوڅو راسر شو او دروازو
ته به ودریده همدا ناری به یې وهلې :

ـ ژرشئ مالونه مو را اوباسئ ناوخته کیږی ؟

بازی به ګله سپکی سپوری خبری هم اوریدی خود
مجبوری او غـر یبی دلاسه یی څـه نـه شو ویـلای
اوغوږونه به یې کـانه کړه .

هغه به چې کورته ستړی ستومانه راغی نومورته
به یې وویل :

ـ موری ګله چې زه سهار په کوشـه کې ناری کړمه
چې هلـې څاروی مورا اوباسئ، ناوخته کیـږی ؟
نوحینې کسان وایی چې بیا سپیره راغی ،څومره ناولی
غږیی دی، خوله دې وچه شی او ....

دهغه دسور ستړ ګی به داوښکو نه ډکیشوی دیوسور
اوسیلی سره به یې ورته وویل :

ـ ستا پلار ته یې هم همداسی ویل چیه ....

اوبیا پوه ورځ (بازی هم په غره کې جل وواهه
به کورکې پریوته دهغه ماشوم ستوب لاز لمیتوب تـه
نه ورسیدلی چې د پلار په لور لار او موریې یوازی
پریښودله .

دننگرها رپه ځینو تودوسیمو کی گرمی ورځ په ورځ
ژیا تیدله اود تودوخی درجه مخ په لوړیدووه نوځکه دکابل
په لوری دکډو بهیر لادمخکی نه را روانو .

(پځمله ا یی) چی د کوتی ددیوال سیوری ته ناسته وه
په گونځی مخ یی دخولو غاښکی رامات وو او ژړ ،
ژړیی هغه دخپل زړوکی په پیښکه وچول .

هغی زړه شا نته پرستن په مخکی خوره کړی وه او
پیوند ونه یی ورته لګول .

دی پرستنی ته‌دومره‌مړیوند ونه ایښودل‌شوی‌ووچی خپله‌اصلی بنه‌اولومړی توته‌پکی بیخی‌ورکه شوی‌اوپته شوی‌وه‌دگند لوپه‌وخت‌کی به‌کله ، کله‌ستن ختاشوه‌اود بخملی ابی په گوتو کې به ور چوخ شوه اوله گوتو به‌یی سړي وینی راووتلی دپرستنې پیوند ونه‌به‌یی سره واړول . دبخملي ابی‌سره‌دخپلو گوتودسوری کیدوهډو دومره خیال نه وخوچې وبسه یی لیده توله پرستن پسه وینو سره شوی اولړل شوی ده نو دغه کار ته بسه پسه زړه‌گی دپره‌خفه شوه ورو به یی له‌ځان سره وویل .

- میرا تی گوتی مسی‌دی شی دومره‌ژر ، ژو ینی کیږی چې‌ستن‌لاختاشوی نه‌وی‌زما په گوتونتوتی‌وی... دستنې او گوتو په منځ کی څو مره گینه پیدا شوی ؟ ... توله پرستن مې په‌وینو تکه سره واوښته .

بخملۀ ابی لاډ ځان سره په خبرو لګیاوه چې زوی یی په کسور را ننووت او دوه درې گامه ور اندی یی غږ کړ :

- ابی بیادی میراته پرستن را خوره کړی اوپه گند لویی لګیایی ؟ میراته اوورکه غریبی اوخواری دی‌شی زه‌وایم نن‌بسه رخت اخلمه سبا بسه یی اخلمه اوښی دمزی نوی پرستن به جوړو مه... همدو سره څه لاس ته‌راځی چې خپله گیده پری‌وچلوو .

هغه چې دغه خبرې کولې نو په نړیو بریتوبې دخولو څاڅکې ځلیدل. اوخپلې مورته یې دخبرو سره لاس پورا وه بخملې ابې ورته ژرخبره وړې کړه:

- نښتره زوبه ته خونودې ډیرې سودا وخوړې که نوې برېستنې ونه کو څوك به موڅه دکلې نه وشړې؟ تادې خدای روغ او ژوندې لرې که سرۅې خولې ډیرې دې یووخت به موبه نوو برېستنو ارمان پوره شې دبرېستنو غم مه کوه داوایه زوبه چیر ته تلې وې؟

نښترچې ډیرستړې معلومیده اوبه بریتوبې لاهماغسې خولې راماتې وې دخپلې مورپه څنګ کې کښینا سته اوځواب یې ورکړ:

- موري لارمه خرمې نا ل بندته بوته اونال مې که په کلې کې وګرځید مه پوښتنه مې وکړه چې په کومه ورځ دلو اولور له پاره کابل ته ځو؟

بخملې ابې یوه اوږده ساه راښکله دلغدې چوپتیا وروسته یې دبرېستنې ګنډل پرېښو دل او دیوسور اوسیلې سره یې نښترته وویل:

-زوبه دسرنه دې وګرځمه که پلار دې ژوندې وای نوتا په لدې ډیرو مشکلو واوسترو نه ځوښتل؟

پرو سکال دې چې پلار غریب ژوندې و نو څوچې

زموږ نورو کلیوالو ځان را جوړاوه هغه هرڅه خلاص کړی وواویوغږته یې غوږنیولی وخوښه شکردی که پلار دی نشته ته‌خویی اود میراتی دغږنه خلاصه یمه...

دنښتر دستر گوپه کونجو کی یونیم دخولو څاڅکی ورننوتی واودهغه سترگی یی ترخی کړی وی ژر، ژر یی‌سترگی ومنبلی اوسورته‌یی خبره ورغوښه کړه:

-مړی ابی‌دا پلار راته‌ډیرمه یادوه‌چی‌هرځل یی‌راته رایادکی نوبیاسی‌تولـه ورځ اوشپه لەزړه نه‌وزی‌اوله ډیره غمه راته ځمکه ځای نه‌را کی رښتیا ابی هیر می شوداچی رانځی‌په دغه‌خالی‌به کابل ته‌ځو.

هغه‌خبری کـولی‌او بخمله ابی ورته‌غوږ، غوږوه اوپه ځیر، ځیریی ورته کتـل اوچی دخبرو وار ورته ورسیـد نویی وو یـــل:

-نښتره بچیه‌ستا خونودومره نری زړه دی... په‌هسی خبره‌هم خپه کیږی. زمازړه ګله‌په‌تا کیږی‌چی کاروکی لو، لور ډیر سخت کاردی اواوس تاته در په‌غاړه شو دپلارپه‌ګور کفن‌دی ډیرپورو ړی‌شو دوه ورځی مخکی نصرو کاکاخپل پور غوښته. بچیه! سکال راته یوڅه اباد ښکاری که په‌خیر سره کابل ته‌ورسیدونوخپل زور به په‌لو، لور اچو وچی دومره‌څه وګتوچی‌هم مویی‌خپله ګوزاره وشی اوهم یی پوروپوته ورکو.

نښتر دیوی ترخی خندا سره دخپلی مور په خبرو کی ورولوید اوورته یی وویل :

-ابی ډیره سو دامه کوه ؟ دانود قسمت خبری دی مخکی له مخکی خپل زړه مه خوره اومه ډیرچورتو نه وهه؟ هغه دا وویل اودکور نه ووت .

هغی بیاستنه کی تارواچاوه اودپیوندو نو په ایښودلو یی لاس پـوری کـړ هغی لاسم بـړ ستنی تـه پیونـد نه وایښی چی نښتر بیرتـه را ننـو ت خپله زړه شـړی یی په تخرګ کی نیو لی وه په یوه تروره لهجه وویـل :

-ابی هغه څلور منه دانی خورا واخله چی ژرندی ته یی یوسمه بیا به په لار کی چاتـه دپور له پاره لاس غزو...؟

بخملـه ابی ژړ پو ر ته شوه دجو ارو ګودی یی را واخسته نښترشاته واچاوه ژرندی ته یی یووړ بخملـه ابی بیر ته دبړ ستنی ګنډلو ته کښینا سته د څوسا تو تیر ید و وروسته نښتر په کور را ننوو ت چی د بخملی ابی پری ستر ګی و نښتی نو پری غږ یی کړ :

-بچیه راغلی ؟څومره به ستړ ی شوی یی ؟ څومره ګر می به دی شوی وی دا څګه په خولو کی لوند خیشت یی ځن خو بیخی ډیره ګرمی ده بچیه !

-هو ! ابی راغلمه ... په ژرندی کی هیڅ وار نه

وخوزما دانی چی کمی وی نوژرنده ګړی راته وارړا که چی دبړ ستنی نه وزګاره شوی نو ګوره ایی زما او خپل کالی پریمنځه ... همدا اوس باید خپل هرڅه تیارکو

هغی خپل تور اوزوړ زړوکی په سر راسم کړاوویی وویل :

- بچیه کالی می لا پرون پریمنځلی دی اوهرڅه می تیار کړی دی .

دخالی ورځ راورسیده لوګرو خپلی کلی په خړواو غرایانو وتړلی اوښ په کابل وخوځیدل .

هغوی هم خپله زړه خیمه ،څو توری ، کټوی اوزړی بړ ستنی په خپل خر باندی بار کړی اود کلی دنورو لوګرو سره یوځای د کابل خواته روان شـــول .

کله به چی مزلونو دغه کډوال ستړی کړل او یا به ورته خپل څاروی ستړی ښکاره شول نود لوی سړ کشاو خواته به یی خپلی خیمی لکی کړی او په نغروکی به یی اورونه بل کړل اوګټوی به یی پری کیښودلی اوهم به دخیمو په مخکی دغه ستړی اوستو مانه لو ګری کښینا ستل کیسی اوخبری به یی سره کولی چا به یوڅه چا به بل څه ویل . کله کله به دخیمو له څنګه د ماشو ما نودلو بو شوراوزوړ پورته کیده .

دننگرهار نه ترکا بله دغه اوږده لاره هغوی د نورو کلونو غوندی په لسوشپو اوورځوکی ووهله او په یولسمه ورځ کابل ته راورسیدل ، په کابل کی چا په یو ځای کی او چا په بل ځای دوی او د ری کډ وسره واړول اوهر څوك د لو ، لورپسی ووته .

نښتر هم دخپل پلار پخوانی اشنا ته ورغی اود هغه دځمکو لویی ځانته ونیوه .

هغه چی پیرته خپلی خیمی ته را ستون شو نو موریی ترینه په یوی خوږی لهجی پوښتنه وکړه :

ـ نښتره زویه ! را غلی ؟ څنګه دی وکړه ؟ چیرته دی ځانته لوپیدا کړه او کهنه ؟

نښتر چی ځانته د لو له پاره ځمکه پیدا کړی وه نو ډیر خوشاله ښکاریده ژر ، ژر به یی په بریتو ګوتی تیرولی مورته یی په یوسغرور انه انداز ځواب ورکړ :

ـ هو! موری هماغه د پلار داشنا لومی ونیو ډیرښه غنم یی پ .

بخمله ا یی ډیره خوشاله شوه شکرونه یی وو یستل اوورته یی د مهربانی نه پهډ کی لهجی وویل :

ـ بچیه پام کوه چی دلوپه وخت کی خپلی ، ګوتی، لاس اوپا پښه غوڅه نه کی ځکه ته نودوسره د لو، لور

سره بلدنه یی پلار دی خدای وښښه ته به یی لو ، لور ته نه پریښودی او ویل به یی داډ یرسخت اوسپیره کار دی نښتردی لاس نه وروړی ؟

نښتر چی یوځل بیا په دغوستړو اوستومانه ورځوکی دخپلی مورنه دخپل پلار دمینی اوخو اخوږی خبری واوریدلی نوپه ستر گوکی یی غتی ، غتی اوښکی وگرځیدی مورته یی پداسی حال کی چی ستونی یی له ژړا نه ډك ، ډك کیده وویل .

- ابی ، ته په یوه خبره نه یی څوځلی مـی درته وویل چی نور راته پلار ډیرمه یادوه . ؟

بخملی ابی په خندا ، خندا خبره ورغوښته کړه :

- هسی خبره می وکړه بچیه که زه خبره وای چی ته پری خپه کیږی نو ولی به می کولـه ته خونو چیه اوس شکر زلمی یی .

سبا ته نښتر خپله سلا په خپلـی زړی اوشیږي پگړی وترله لوریی په لاس کی واخست اوپه پتی ورکه شواوپه لویی لاس پوری کړدوه ساته لانه و پوره شوی چی نښتر دیولسوی پتی دغنمو لوپاړ تـه ورسو. هغه به چی هره ستری په خپل مخکی واچوله نوبخملی ابی به له ځان سره ، پټ ، پټ شکرونـه ویستل اوپـه زړه کی به یی ډیره خوشالی پیداشوه .

هغه دیوی لنډی دمی وروسته بیا په پتی ورکړ شواوپه لویی ویل وکړ په منډه ، منډه یی ددغی پتی لو هم حلاص کړ .

نبشتر به لو کاوه اومور به یی ورپسی دغنمووپی تولول هغه پهخوند او مزه خلور ورځی لوو کړاو ډیر پاخه لوگری ورته حیران پاتی وو. خوکله چی پنځمه ورځ شوه اوهغه دغنمو په پتی ورگه شو ، پتی لانیمایی ته نه ورسید لی چی هغه په په چور تونوکی ډوب شوی و اور ترینه ختاشو او د غنمو دکو دې پرځای یی دخپل کین لاس دوی گوتی وربیلی ، دغنمو وړې او کوده یی په وینو سره شوه ، دکین لاس نه یی وینی څڅیدلی اوله ډیره دردیی لهخولی نه زگیروی او چغی پورته کیدی .

بخمله ابی په وار ختایی راغله هغه یی په غیږ کی ونیود خولی نه یی بی واره چغی پورته کیدی چی واخدایه زوی می مړ شو یوموتی خاوره یی دپتی نه را واخسته او د نبشتر په گو تویی وا چولسه او هم یی دخپل زړو کی نه یوه پیځکه راخیرې کړه او دهغه لاس یی پری کلك وترلوله همد غی ورځی نه نبشتر له کاره ولویدا ودلو کولو وس اوتوان یی دلاسه ورکړ .

مُحیل

دهغه لاس گزك شواوبه یی پتی کړی تول بدن یی درد کاوه . توله ورځ به پـه خپلی زړی خیمی کـی ملاست وا وچور تونه به یی وهل او په چورتو ، چورتو کی به تر ینه خپل ځان هیرو ،

دځمکی څښتن هم ډیر په غوسه وځکه چی نښتر ورته لوپـه نیما یی کی پر یښی واو سجبو رو چـی کوم بل لوګری ورته پیدا کړی .

بخمله ابی به لا کله ، کله را ووتله په پټیو به راسر شوه او دغنمووړی به یی تواول .

په کاپل کی لو پاي ته ورسید او ورو ،ورو دمنی سړی شپی را نـږدی کید لـی دسړو ، سړو بـاد ونـو لګیدل پیل شول نو ییر ته دننګر ها ر په لو ر د کله و کوچلیدل شروع شوو . .

بخملی ابی او نښترهم خپله کډګی په خروتړله او دخپلو نورو لو ګـرو کلیو الو سر ه یوځای دننګرها ر خواته وخوځیدل .

خود نښتر لاس لاتر اوسه هم نه وښه شوی اوپه تولـه لار رورسره دپوروړوغم و.

کو چنی اختر ته لاپوره شل و رڅی پاتی وی چی (هوسی) خپلی نیا (لونگی) ته ځان لیونی کړ او ځیل یی را واخسته ، په سترګو به یی سوک کیښوده او تولـه ورځ به یی ژړل اوویل به یـی :

ـ ولی د کلی نوری جنکی به په اختر کی نوی کالی اغوندی اوزه به په زړو اوخیر نو کالیو کـی اختر تیر ومه پرو سکال دی هم را ته کالی ونه کړه اود(شریفی) سوالی کالی دی را ته راوا غوسته...

نه . . . نه زه درنه پدی اختر کی نوی او ښا یسته کالی چې غټ، غټ ګلان پرې پراته وی غواړمه .

دهوسی نیا (لونګی) به چې له یوی خوا خپلی غریبی او بیوزلی اوله بلی خوا به یی دخپلی لمسی ځیل اوژړا ته و کتل نو له ډیره غمه به یی په ستر ګوکی سړی او ښکی وګرځیدی په زړه کښی به یی پټ له ځان سره وویل :

ـ خواران به نوی کالی په څه شي وکی ؟ نوی کالی خو پسی غواړی او . . . خو په خولی به یی دهوسی د پخلا کولو او خوشالو لو له پاره وویل :

ـ واکمبختی اختر تښه لاشل ورځی پاتی دی او تا په ژړا باندی خپل ځان له اوسه سړ کړه ... تراوسه خولا هیڅا نوی کالی نه دی اخستی اونه یی ګنډلی دی لږ صبر وکړه تاته به یی هم وکړمه .

هوسی چې خپلی نیادوه دری اختر ونه په همد غسی وعدو او بهانو تیرو پستلی وه نوهغی چې هرځومره وعدی ورسره وکړی چې اختر را نږدی شي نو نوی کالی به ورته وکړی خوهوسی دهغی خبری نه ښکلی اود روغ ورته ښکاره یدی... هوسی به ځان په خاورو کی را ګوزار کړ او په ژړا به یی لاس پوری کړ، سلګی به یی وهلی او یووار به یی ناڅا پی چغی کړی .

-نه... نه... زه دنا جو غوندی نوی کالی چې غټ
گل پرې پروت وی غواړمه.

لونگه به دخپلې لمسۍ پدغوښتود یره ژړا ته ځوریده غمونو
به په سرو اخسته ستر گې به یې اسمان ته ونیولی. په خوله به
یې هغې ته یوځه وویل خو په زړه کې به یې تیرشوو
چې هوسی لیونی ته گوری دنا جوغوندی کالی
غواړی هغه پدی نه پوهیږی چې نا جوړ چالوړده؟

دا کمبخته لا پدی هم خبره نه ده چې دنا جوړلا رژوندی
دی د ډیر واو پریمانه شتو خاوند دی او دری څلور
زلمی ورونه لری... او دانه پلار لری اونه ورونه
مورځویی لاد پلار نه یوکال مخکې سړه شوی ده ناځو
همدو سره څه لروده چې دهغې دنور او پلار په سخات
گور، کفن او خیرات می ولگول او اوس لاپورې
هم یمه څه لو بې او کالی می چې لروده هغه راته
پورورویو ورل.

لونگې به دغه دزړه خبرې په زړه کې خلاصې کړې
او کله به دغو خبرو دو سره ځوروله اوستړی کړې
وه چې له خولې به یې غږ نه خوت.

هغه به هوسې ته ور نږدې شوه د خاوروله به یې
پورته کړه اوچه خپل زور څپې به یې ور تسمخ او

سره خاورو پاك كړ كالی به یې ورته خندوهل اوپه هیر گی به یې گلکه وئیو له . په قسمونوبه یې ورته خوله خو له پهه سترې كړه یې واره ، یې واره به یې ورته وویل !

ـ هوسې ، اوس غلی شه ژرا بس گه ، زړه سی مه خوره گه سی په اختر گی درته نوی گالی ونه كړل نو بیاچې هرڅه وایې ویې وایه دا خترشې لالیږی دی . دامی پکلی اوښایسته گالی به درته وكړمه چې دنا جود گالیو نه به هم دولی اوپکلی وې او دگای تولی جنکی به ورته حیرانی پاتی شی .

لونگی به چې هرڅه وویل خود هغې زړه ته نه و لیده او په خولې نیایې زړه خام او تکنی و . خو گله به یې چې دغه ځل دهغې دیرو قسمونوته و كتل نو په زړه كې به ورسره یوڅه دادپیدا شوو به یې ویل .

ـ نه ... نه ... زه دنا جو غوندی دبخمل كمیس چې څټ گل یې پروت وی غواړمه .... بل رنگ كمیس په بلا وامه ادی د بخمل دكمیس سره د توری خاصی خهښی دیرخوند كی . هغه به هم را ته اخلی ... گوره ادی ماته به بل رنگ كمیس نه گی ... پرو سكال خودی را باندی چل و كه .. سكال دی والله كه پریږدمه ...

پروسکال دی په ټمه کړمه خوچې اختر شونو هماغه زړی جامی دی راته راوا غوستی په کوڅه کی به راپورې تولوجنکیو خندل او په لوبو کی به یی نه پریښود مه. لونگی به دهوسی نیمکیو اوخوږو خبروته غوږ نیولی واود هغی هری خبری به ورته په زړه کی پخوانسی پرهرونه تازه کول پیابه یی دفکر بیری دخواشینی او اند یښنو په سمند رور گډه شوه هغه به ئی په تندی ټکل کړه دسړې ویښتا نوگی به یی ورته لاس راتیر کړ اودیوسور اوسیلی سره به یی وویل :

-بچی یووار خواختر راوړ سپری گډسی درته نوی کالی وښه کړل نوبیا ووایه چی سلامته یی والله چی درته یی ... و کمه

دهغی په زړه کی دناجود کمیس مینی او شوق غای نیولی و، خپله نیا یی خبروته نه پریښوده اوژړ به یی ورته دخبرو سلسله وربری کړه .

-ادی یووارمی درته وویل زه درنه پدی اختر کی دنا جو غوندی دبخمل کمیس چې څټ گل و لری غواړمه ...[تانه خوسی لاداد اواوبی هم بسه وینه هر اختر گلی به[یی راته[نوی، نوی کالی گډول، څښتی به یی راته راوړل اوها یسته ښې به یی راته اخستی گنجوټ

دوهره سپین وایی چې ما ته دې دا دوه کاله هیڅ شی وا نه خسته .

هوسی چې اووه کلنه ماشومه انجلی وه او دغه راز خپری یې د بخوبه منځ کی زده کړي وي نو په خپلی دي خبری او غږ پښتنی پا ندی کلکه ولاړه وه چې نیا یی باید ورته خا یښاد ناچو غوندی د بخمل کمیس وا خلی .

د لونګی زړه نه کیده چې د خپلی یتیمی او ماشو سی لیسی خبری په خپلو ترخو خبرو او رتلو جملو وروګرځوي خو ګله چې دهوسی وروښتیو خبرود یره خو اشینی کړی او تنګه ته را وستی وه نو زړه یی د یر خپه شو غوسه و رغله نو د هغې په خواب کې یی دا سی وویل :

ـ هوسی ، د بخمل په کمیس پو هیږي ، نوی څښتی او نوی یې دی خوښی دي خو یدی نه پوهیږی چې زه یی په څه شي واخلمه ؟ دا دا او سپردی چې ژوندي وتو په کلی کی یې مز دوري ګوله د ومره څه به لاس ته ورته چې دروغ اډر ښکور کا رسوپری ګیډ وخدا ی دی میراته ناروغی کړي چې په تول کلی کی سو بر کړه را غله اول یی ستاسو را و بیا یی ستاپلا رتو ر وخا و رو ته د ولیږ ل په کور کی چې څه و هغه تول دهغو ي په ګو را و کفن ولګیږه اوس سو پخپلی ګیډ ی ته حیرا ن یو .

دخبرو په منځ کې هغه ټوخي و نیوله دو سره یې وټوخل
چې په ستر ګو کې یې او پښکې و ګرځیدې او خبرې تري
هیرې شوې غاړه یې تازه کړه او بیرته یې د خبرې سر ونیو.

ـ تولهورځ سې اسما په لاس کې وي ریږدیدلی او
لږ زیدلی ګله دیوکورته او کله دپل دروازې ته ولاړه
یمه ، خیرا ت اوذکات غواړمه .. تاهم را ته ځان
لیونی کړې او دنا جوغو ندی د بخمل کمیس غواړی.
هغې به چې دغه خبرې کولې نو په زړه کې به یې د غمو
توري وریځې و ګرځیدې ستر ګې به یې له اوښکو دکې شوې
او یونیم خا کې به چې راتو ې شو نو دمخ په ګو نځو کې
به یې ور ایسا رشو.

هوسې دهغې پد غوخبرو بیا په ژړا پیل وکړ په خاو رو کې
یې په رغړیدو لاس پو ري کړ او په چغو ، چغوئې نیا ته
دمخکې غو ندي و ویل :

ـ مادر ته ته ویل چې ته در وغجنه یې در وغ وایې
ما ته دنا جوغو ندې د بخمل کمیس چې لوی ګل پرې پر وت
وي نه کې ... والله که خورا باندې پدې ا ختر کې سوالي
اوزاړه ګا لې وا غوندې ؟ ما پو ري په کو څه کې جنګې
خاندې او یه لوبو کې مې نه پر یدې .

هوسې هما غسې په خاو رو کې لغتې وهلې ، مخ او ګریوان

ئی په او شکو لو ندپه غیږ کی یې یارا و نیوه کالی یې ور ته څنډو هل او مخ ا وسر یې ورته د خاورو نه پاک کړ او د پخوا غوندې ئی په تیرو ستونکو او تسلی ورکونکو خبرو لاس پوری کړ.

ـ هوسي بچي ! را پورته شه مه ژاړه زما یوه خبره ده چې پدی کوچنی اختر کی درته نوی کالی کومه او که می درته نوی کالی ونه کړه نو بیا تیری را واخله او سا پی و له ,

هغی بیا چغی کړی او دخپلی نیا خبره پی ورغو څه کړه

ـ دا می مه وایه چې نوی کالی درته کومه؟ نه... نه زه دنا جو غوندی د یخمل کمیس چې لوی گل و لری غواړ مـه ...

لونگی خپله لمسی په غیږ کی را پورته کړه او څو واړې په مخ باندی سچی کړه.

هوسی چی تولهورځ په ژړا ارځیل باندی تیره کړی وه او ستړگی یی سری او شتی وی نو خوب په ناسته تالی ورکړی نیا ئی په کټ کی واچوله او د پرژړ خوب یو و ړه

لونگی خپله امسا په لاس کی واخسته له اودزړه په زور په کلی کی په کورو نو راسرشوه چی یوځو روپی چا نه پور واخلی او دخپلی لمسی غوښتنه او ارمان پوره کاندې

خوولی هیڅا ورته یوه روپی هم ورنه کړه. ځکه هغوی پوهیدل چې سبا به یې له کومه کړې چې بیرته یې ورکړی کله چې بیرته کورته راتله د کلی یوې میرمنې ورته دخپلې اته کلنې لور مبتلی کمیس په گو تو کې ورکړ ناامیده اوخالي لاس کورته راغله.

هوسی چې ټوله ورځ ژړلی واو ځان یې پرې ژړا اوځیل یاندی ستړی کړی وو لاهماغسی ستړی اوستومانه په درانه خوب ویده وه نیایی ورته دکټ سرته ناسته وه اوله ځان سره یې ویل.

ـ سیراته، بیوسی اوبې دستی دی شی که اوس می پخوانی ځوانی وای نو ولی به سی دچا خیراتو نواو ذکاتونو ته ستړگی نیولی. چیرته به سی دچا کالی پریمنځلی او یا به سی بله خواړې او غریبی کوله.

دادی سبا بل سبا اختر دی هغوچې پیسی لسرو دی خپلو کوچنیانو ته یې نوې کالی و کړه په خوښی او چې چوبه اختر تیرکی ... هوسی رانه نوی کالی غواړی زه به یې له کومه کم ؟

دهغې پرزړه کې چې به دغه راز بوگنونکی خیالونه تیرشو نو پستړگونه به یې داوښکو باران راووړید او دهغه په څپو کې به یې بیاله ځان سره و ویل :

-چا راته پورړا نه که پروسکال‌مې په‌هغی‌دغی وغولوله پدی اختر کی به‌ورسره څه گومه ؟هغه لیونی را نه دنا جو غوندی دبخمل کمیس غواړی او زمالاس چیت هم نه رسیږي.

هوسی هم ملاسته نه ده ماشومه ده، یتیمه ده په کوڅه کی دوړو جنګیږو نوی اوښا یسته کالی گوری نو هغه هم ورته ځوریږي او پخسیږي وی خدایه څه و کمه هم غریبی ،ده او هم بی دستی.

لونگی ته به ددغسی ځورونکو چور تو نو په‌لړ کی یو ښل خیال پیداشود سترگو نه یی اوښکی وچی کړی او وی ویل :

-څه ،. هغه سښلی کمیس چی (نر گسی) را ته یو سات مخکی خیرات راکه درنګریز دکان ته یوسمه او رنګ به‌یې کمه . . . وی‌خدایه رنګریز خوهم بیا پسی غواړی. . . .

لونگی لادخپل ځان‌سره دغه راز خبری کولی‌چی هوسی دخوب ندرا پورته شوه اوپه کټ کی کښینا سته سترگی یی وسښلی او بیا یی دبخمل کمیس په زړه او فکر وگرځید. اوپه ژړا ،ژړا کی یی وویل :

- ادي ژړ راته ووا یه ماته دنا جوغوندی کمیس

کلـه کی اخترته خو دری ورځی پاتی دی تولو خلکو توتی واخستی او کالی یی ځانته وگنډل زه بسه نـورو جنکیوته چی نوی کالی ہی اغو ستی وی څنګه گورمه؟ هغوی به په ماخاندی .نه ... نـه...زه دناجوغوندی د بخمل کمیس چی څټ گل ولری غواړمه .

لونگی ور ته دیو پور اوسیلی سره هماغه پخوانی خبری و کړی او بیا یی ورته هغـه مثلی کمیس چی یو سات سخکی ور ته نرگسی ورکړی ووښود .

هوسی چی دا څل له خوبه وه خپلی ژړا او ځیل ته یی لاپسی زور ور کړاو په ژړا یی وویل :

- زه دازور کمیس په بلا وامه زه ...نـه... نـه دنا جوغوندی کمیس غواړمه .

دلونگی اوهوسی ترمنځ دغه راز خبـرو اولا نجی خوورځی دوام و کړه اخرکی چی هوسی پوه شوه چی نیایی ورته نوی کالی نه کوی اوخوشی یی په خبـرو او وعدو تیر باسی نوژړه یی وا چاوه او لـه د یـری خواشینی نه نا رو غه شوله دگرځیدونه بیخی ولویده. تولـه شپه او ورځ به په کټ کی پرته وه اوله ځای نـه شوه پورته کیدای .

وروستی سلگی

دکوچنی اختر شپی او ورځی راورسیدی اود کلو تولو جنګیو او هلکانو نوی اوښکلی کالی اغوستی او هری خواته یی منډی وهلی، ساتیری یی کوله په تالو نو کی ځنګیدل، میلو ته تلل او په خپلو کسی یی یو اویل ته د کوچنی اختر مبارکی ورکولی او زړه وګنه یی لسه خوښی او خوشالی نه باغ، باغ کیده خوولسی هوسی ډیره کلکه ناروغه وه او په ګټ کی بی حاله پرته وه دنارو غتیا ډیرو درد ونو ترینه اختر اودنا جوغوندی دبخمل کمیس هیر کړی اوله یاده ویستلی و.

نیا یی ور ته دګټ سر ته لاس ترز نی غمګینسه او غمجنه ناسته وه خود پخوا په څیرد هوسی داخبـری چی دناجو غوندی دبخمل کمیس چی غټ گل ولری غواړمه دهغی غوږته نه راتلی. هوسی نوره په دغوغو پټنواو خبرو خپله ژبه نه شوه خوځولی او بی حاله په کټ کی پرته وه.

بدغه ورځ (بی بی) د یوه خوشا له معلومید له اود تیرو ورځو غوندی یـی په تندی کـی د قهر او غوسی نښی نه وي ځکه دهغـی دما ما زوی چی در ی کـا له مخکی دلوړوزده کړو له پاره بهرته تللی ودزده کړی د پای ته رسولو وروسته بیرته خپل کور ته راغلی و او له ځان سره یی هغی ته د یـوه سـوغاتـونه راوړه ی وو.

دخپل کا له خد متگا ری (کمکی) اود هغی لس کلن زوی (مرجان) ته یی ننـدنو رو ورځونه لږه مخکی اجا زه ورکړه چی دوا ره خپل کور ته لاړشی.

کمکی او مرجان په تگ ، تگ کښی د بی بسی دواړه لاسونه ښکل کړه او بیا دخپل کور په لورو ان شول .

کمکی ، دبی بی د کالـه د مینښو یوه غټه گټوشړ وسبی اودمیلمنو نه د بیگانی پاتی شونی ډوډی څو کتری د تخرگ لاندی نیولی وی او په لویه کوڅه کی یی چا یك ، چا یك گاسونه اخستل په تولـه لاره یی کمکی ته په ځیر ، ځیر گتل چی په کوم اوچوکی ، خزلی او لر گی باندی به یی ستر گی ولگیدی نو لاس به یی وراوږد کړ او په گوتو کی به یی راپورته کړه او خپل زوی مرجان ته به یی په لاس کی ورکړ . دوروستی ساز یگر د لمړو را نگی ورو ، ورو د غرو نوشاته پټیدلی چی سوراوزوی دواړه دخپلی کوتی تورو تمبوته ودریدل کمکی دشړ وسبو گټوه په کمکه کینښوده دجیب نه یی کونجی راو ویسته اود کوتی غټ خړ قو لف یی پری خلاص کړ او په کوتی ورننو تـل .

دمابنام تیاری د کوتی د تیارو سره یوځای کیدی کمکی پورته شوه ډیوه یی ولگو له دهما غـه خزلونه چی په کوڅه کی یی راتولی کـړی وی په چرگی کی یی او وبل کړ اودواړه ورتـه کښینا ستل .

په داسی حال کی چی په کوتـه کی تر یخ او تور لوگی دوریځو غـوندی پخلتـه او پورته گـرځیده کمکی او مرجان دشړو-

مبو نه ډگی کا سی او سړی ډوډی ته دچر گی په غاړه پلتی ووهله او په خوند، خوندیی وخواړه او بیا زړو کتونوته ورپورته شول.

کمکی ډیوه پوه اومړه کړه ترهغی پورې چې مور او زوی ته خوب نه وورغلی نودبی بی د تیروور څخه گواښونو او پټکو خبرې یی کولی او هم به یی د دغو خبرو په اړه کی دخپل تر یخ او پیکه ژوند نه سر تکاوه سر جان په دیوسوړ اوسیلی سره وویل.

- گوره ایی دکلی نورهکان منتب (مکتب) ته لځی او په منتب کی سبقونه وایی اوزه تو له ورځ دخان دلا ندی پسونه په سره غرمه کی پیایم. هغوی هره ورځ نوی، نوی، کالی اغوندی اوته ماته نوی کالی نه کی او....

کمکی به چې دخپل زوی سرجان دغه راز در دو- نکو خبر واوغوښتنو ډیره څوروله نوژربه بی خبره ور- لنډه کړه اوورته به یی وویل:

- زوی په هغو دشتو خاوند اندی، کورو نه لری مور خو نو غریبان یودبل چاسره پراته یو. ته راته دپلار نه ډیر وړوکی پاتی شوی پلاردی خدای وبخښنه په مز دوری اوخواری کی دیوی گولی در ملو په

ارمان سرشوپه کاله کی دوسر مخه نه‌و چی دهغه داروسی پی کړی وای.

دغه وخت دهغی ستونی بند شواو خبره یی په‌خولی کی‌وچه‌شوه بوه‌شیبه وروسته یی بیا په خبرو پیل‌وکړ:

ـ که می بچیه چیری لاس وچلیده نو تاته به هم پاتی پاتیسته او نوی‌کالی وکمه .. که‌ستادپلار نه څه پاتی وای نوولی به‌اوس سادبل چاکره دیوی خدمتګاری په توګه‌کار کاوه اوته به‌می ولی مزدوروليخوبچیه داتول دمجبوری اوغریبی دلاسه...

سرجان ؛یر هوښیار هلك‌ونودخپلی‌سورپدغوخوا‌شینوتکو خبرو خوابدی اوپه خپلی غوښتنی پښیمانه غوندی شوپه کټ کی خوب تالی‌ور کولی‌ویی‌ویل:

ـا بی سړی ته خونوپه هسی توکه هم خپه کیږی ما خو نو څه‌ر پټیادر نه نوی کالی ونه غوښته اونه می دلاسه ونیوي چی‌په منتب کی‌می واچوه...

دکمکی ستر گسی د او پټکونه‌ډکسی شوی او په ژړغونی توګه یی وویل:

ـ زوی یه که‌ته ووایی اوکه‌ونه‌وایی‌زه پوهیږمه کمکی دخپلو د غو و رو ستیو خبر و سره د غمونو په سمندر کی‌وړې وبه شوه اوغلی پاتی شوه.

- مرجان په وار ختا یې غږ کړ.

- ابی وا ابی وی‌ولی خبری بس کسړی؟ لکه چې خوب یووړی ابی وا ابی . .

کمکسی دتوری کو تی په تیارو کی خپلی او ښکی په‌لا سو نو وچی کړی او بیا یی په خبرو پیل وکړ:

- که مور خواران او غر یمان نه وای نود بی بی دگوا ښو نو، سپکواوسپورونه‌به می‌څه بلا غوښته او تا به ولی ورته په سرو غرمو پسونه پیولی ؟

هغه دخپلی مور په خبرو کی ور ولو یداوو بی‌ویل:

- ابی دمازیگر راهسی می‌داسرمیرات د پرخوړیږی اوشیبه په شیبه می دردزیا تیږی . . . .

مور بی‌په یوه مښر بانه‌لهجه‌ځواب ورکړ

- خدای به دی زویه‌جوړ کی ستانو بچیه کله ، کله سرخوړیږی بچیه شړ وسپی به در با ندی بدی لګید لی وی . . . . ؟

مرجان دلیږی چوپتیا وروسته وویل :

- نه‌ابی دشړو ښو خبره نه ده پرون می چې پسونه پیول نود پرسا ره‌واویخ باد لګیده لکه چې سړوو هلی یم او سرمی دیخنی دلاسه خوړیږی . .

مورپی دیوسوړ اوسیلی سره ځواب ورکړ :

- زویه خدای به دی جوړ کی د پرچورت مه وهـه ... بچیه سپیر کی درته راواخلمه ؟

هغه خپل تندی ته گوتی وروړی اوپی زور پی واچاوه اووی ویل:

-نه ابی سپیر گی نه خورم. کمکی چی د گاردلاسه د پره ستړی وه نسوله یوی خواد غمونـو واوانـد یښنـودسمنـد ربه منځ کی لاهو وه اوله ملی خولورته خـوب تالسی ورکـولی غلی غوندی پی زوی ته وویل:

-زویه زه خوډ پره ستړی یمه او تولـه ورځ مـی د بی بی دتخرو نوپه څنډ لواو تکو لوتیره کړی اوته هم ستړی پی سردی خوږ پیری .. شپه پخه ده سبا به بیـاد کـار پسی لحو .

هغی لاخبری کولی چی د مرجان سترگی په خوب کی ورپتی شوی .

کمکی چی دخپلو خبروڅواب وانه ورید نوپوه شوه چی مرجان ویده شوی دی . هغی خپل زوړزړو کی او زړه پر سستن په خپل سر اښکله اوسترگی پی پتی کړی دغه شپه هم دنورو شپو غوندی وو تلـه . ملا لاذان نه وکړی چی کمکی لهخوبه راویښه شوه پهچـر گی کی پی دخز لواو ربل کړاو داوبو نه ډك تسورچـای

جوش یی پری کیښود . خز لی چی د پری لمدی وی او په
کوڅه کی پری دتیری ورځی باران وریدلی و نـود
کو تی تولـه فضا لوگی و نیوله دکو تی تیاره چی دسبا
درنا سره ورو، ورو کمید له نو کمکی دخپل زوی سرته
ودریده پرستن یی ورته دسر نه را لیږی کړه اوویی
ویل:

ـ سرجانه زویه پاڅه جگ شه؟ او په سی درتـه تـودی
کړی لاسونه اومخ دی پریمنځه سبا نا ری وکړه ...
بیا به دبی بی کړه کار ته لـو.

کمکی چی هر څومره خپلی دغـه خبری تکرار کړی
سرجان یی ځواب ورنه کړو رنږدی شوه دهغه کینې لاس
یی و نیو ... دهغه لاس د پرتودو دخولی نه یی یونیم
زګیروی پورته کیده کمکی پوه شوه چـی سرجـان تبـی
نیولی اوپه درد و نوگی ډوب دی.

په دوارو لاسونویی هغـه وښـوراوه هغـه پـه ارځ
واوښت ستر گی یی راوغړ ولی موږ ته یی په مینه ، مینه
وکتل خپلی ستر گی یی دهغی په شلید لی گریوان گی
داسی ورښخی کړی تا به ویل چی همد ا یی ورو ستې
کتل دی د لیږی چو پتیا و روسته یی وویل:

-ایی ته یی ؟

پدغه وخت کی د کمکی دخولی نه دیو سوړ اوسیلی سره چغه پورته شوه نحواب یی ورکړ :

هوایی دی جارشه بچیه ، ایی دی در نه سپیلنی شی ... مړ جانه بچیه کم نحای دی خوږ یږي ؟

هغه یوورځکی توخی وکړیوه لنډه ساه یی راښکله اوویی ویل :

-سوري تول نحان سی درد کی بیخی دپورته کیدو نه یمه دا د پسو نو کار به څنګه شی ایی ؟

پداسی حال کی چی دکمکی په مخ باندی دتړ مو اوښکولاری جوړی وی اوستونی یی دک ک، دک کیده په مرجان باندی ور تیته شوه په مخ او تندی باندی یی سچی کړ اوورته یی وویل :

- زویه اوس دی خدای راته تاجوړ کی د پسونو غم اوسودا مه کوه که ته همداسی نا روغه یی نو زه هم د یی یی کره نه نحمه ...

مرجان په زګیرویو ، زګیرو یو کی دخپلی سورخبره ور غوځه کړه .

-نه ... نه مو ری ما پسی مه کړ نحه خپل کار ته

لاړه شه زماد ناروغی نه هم مشرخان او بی بی د وا ړه خبر که هغوی خو نو تا ته معلوم دی چی یو وار په غوسه شی نو سپکی سپوري او کنځلی کی .

کمکی یوه شیبه د سرجان دغو خبرو ته په چورت کی لاړه او بیا یی وویل :

ـ یره زویه که هغوی سی په و هلو سره هم کی نـن نه ورځمه ... ځمه د و یا لود غاړي نه در ته (شمکی) او (بی بی نوشا) بوتی را وړمه .

د لمرزرینی وړانگی د تمبو د څنگ نه کوتی ته راننوتی چی کمکی د خپل کـور نه ووته او په و یا لو باندی را سر شوه . منگولی یـی د بوټونه را د کی کړی کور ته راغله هغه یی و یشو ل سـر جان ته یی ور کـړل د هغه په خوله باندی بد ولگیده ستونی یی خا ربنت و کړ او د یر زیات وتوخیده سورته یی زاری او خو شامنـدی و کړی او په نښتی لهجه یی وویل :

ـ سوری ... نور نه خورم د یر بد لگی . ا بی ترخه دي .

سور یی ور ته په جار او قربان لا س پوری کړ او ځواب کی یی ورته وویل :

زویه د ا د یر ښه دا رو دی یوه پیا له بله هم وخوره د یر ژر به دي تبه پر یږدي سر به دی هم ښه شي .

هغه پیالی ته لاس اوږد کړاو دشمکی او بی بی نوشا ترخی او به یی به سرراواړولی او په زوږ یی دستونی نه تیری کړی او بیر ته پریو ته .موریی بیا لاس و نیو او پو هتنه یی و کړه :

-مرجانه بچیه سبا ناری نه کی یو کپ دودی خوبه دی خوړلی وای ؟

هغه کلك ، کلك توخل او د خولی نه یی بی واره زګیروي را خاته ځواب یی ورکړ :

-ابی هیڅ شی سی زړه ته نه کیږی.

کمکی دخپلی کوتی دیوال ته ډډه ولګوله او دمرجان زګیر وږو ته یی غوږ نیولی و او دهغه هرزګیروی به یی په زړه دګولی غوندی لګیده. تولهورځ په مرجان باندی په درد وانواو به کمکی باندی په اند یښنوکی ووتله .

کمکی پدی تمه وه چی دشمکی او بی بی نوشا بوتی به په مرجان ښه و لګی او د نا روغی دلیری ګولو په برخه کی به و رسره مرسته و کړی خود هغه نا روغی او درد دیوسات نه بل سات تسه زیاتیده. شپه راغله او په کوته کی بیا تیاره را ننو تله کمکی په چرګی کی دلبدو خزلونه اوربل کړه یوه یی و لګوله. مرجان لاهما غسی ددردونو سره لاس او ګریوان و اوسور یی

ورته غمجنه اوحیرانه سرته ناسته وه‌ژړ،ژړ به ور پورته شوه لاس به‌یی ونیوه چی‌تبه یـی شکیدلی او که نه؟ په نیمه شپه کی چی دهغه زګیروی ورغلی شو نودمور زړه یی ښه شو چی گوندی مرجان ښه شوی دی نو خپل کټ ته پورته شوه او په‌اند یښنوکی یی ستر گی ورپتی شوی په خوب کی خوب وینی چی (مرجـان را زلمی شوې وی، چیرته لیری مزدوری اوخواری پسی تللـی وی په خواری او مزدوری کی ورته‌دیری پیسی لاس ته‌ورغلی وی‌کورته راشی او دی‌ته یی‌په لاس کی ور کړی. په کلي کی شوك خپله ځمکه خرڅوی ورشی‌او توله واخلی به پوڅوروپیوپښکلی کـورجوړکړی‌د کور له‌پاره دیرلوښی‌اودوه‌دری غالی واخلی اوهم یوه لنگه غواکور ته راولی او نوره دې بی‌ددیر وګـوانو، سپکو، سپورو او پتکونه خلاصه شی . په کلی کور کی راسر شی چی یوه ښکلی او حیانا که‌انجلی پیدا کړی چی خپل‌زوی مرجان ته‌یی وکړی . بالاخره دیـوشتمن سړی لوریی‌خوښه شی نو مرکه ور ولیږی‌هغه یی په‌ورین تندی مر که ومنی او خپله لور مرجان ته ور کړی.

دکوژدنی ښادی‌او خوشا لی شروع شی دانګړ توله فضا ساز او سرود ونیسی او دسندر غاړواو ازونه او

سندری پورته کیږی دکلی ښځی ډلی ډلی سبا رکی ته راځی اوناری راوړی. داد هری ښځی دسبا رکی په مقابل کی دخندا نه په ډکی خولی وایی ... بنادی شی . بی بچیو مه شی او ...) کمکی لاپه خوب کښی خوب وینی چی دسرجان دخولی نه یوه بده اودرد ناکه چغه پورته شوه . وی خدایه زړه سی سوری شو. وی خدایه سړشومه .. توبه . توبه آه خدا یسه د سرجان پدغودرد ناکواوبو گنو نکو چغو هغه لهخوب نه راپورته اوراویښه شو هوارخته اوترور ه په کټ گی کښینا سته ستر گی یی ومښلی توبی یسی ویستی پو هشوه چی پهخوب کی خوب وینی . هماغه دلو گیواوغمونه ډگه کوته ،خواری اوغریبی اودسرجان زگیروي دي اوخوب یی بل شان تعبیر لري دکټ نه پورته شوه سرجان تهور غله اوپو ښتنه یی تسرینه و کړه .

- زویه څنگه یی درد دی لږ شوی نه دی ! بچیه سرجان دزړه په زور ځواب ور کړ:

-سوري سرمی ښه شوي دي خو نور ځان مسی ډیر درد کی .

سوریی په یومهر بانه اوازکی وویل:

-بچیه سردی چی ښه شوی دی خدای به دی نور ځان

هم ښه کی زوی یه شمکی او بی بی نوشا خو نو ډیر ښه دا رو دي:

سرجان ښیا درد و نو یه سخه کسر او په نا رامی کی ارام غو ندی شو د کمکی زړه ښه شو چی گونـدی سرجان سخ په ښه کیدو دی.

د غه شپه هم دتیری شپی غو ندی یه کمکـی یـه اندیښنو او په سرجان باندی په درد و نو کی سبا شوه کمکی ښیادسرجان سرته ودریده او پوښتنه یی و کـړه

-زویه ډوډی ته دی زړه نه کیږی؟

سرجان چـی دری ورځی او دوی شپی هیڅ شـی نه وخوړلی نوخپلی سو رته یی دزګیـرویو سره وویل

- ابی ته خونو یو کپ ډوډی راوړه؟

کمکی پورته شوه اود بـی بی د کا له دخلورووړځـو سره ډوډی یی ورته راواخسته او په لاس کی ورکـړه په ډوډی باندی چی څوورځی وتلی وی ډیره کلکـه وه هرځومره چی پری سرجان زور وکړ دستو نی نه یـی تـیره نه شوه بیرته یی سور ته ورکړه او نوریی هیڅ ونه وویل.

د پرون غوندی په دروازه کی دلمر پلوشی رانښوتلی چی دبی بی کشر زوی (زمری) په دروازه کی ودرید اووییل:

- کمکی آبی مورمی غوښتلی .

کمکی ورپورته شو ، زمری ته یی ستړی مه شی وکړه او له ډیروخو شا منډ ویی په تندی ښکل کړ او په ولاړه کښی یی ورته دخپل ژوی مرجان دنا روغی کیسه تیره کړه او ورته یی وویل :

-زمری جانه ته لحه اوزه درپسی یمه .

زمري چې ووت نو مرجان سر را پورته کړ او پوښتنه یی وکړه :

- موري دچاسره دی خبری کولی ؟

د کمکی چې ټول وجود لسه ویری ړیږ یده مرجان ته یی په ځواب کی وویل :

- زویه بی بی خپل وړوکی زوی (زمری) را لیږلی وا وزه یی غوښتی یمه .

مرجان دیوا و یدز ګیروی سره په وارختا یی سره وویل :

- موري ژرور شه ؟ څنډه مه کوه هغه خونو تا ته ښه معلومه ده چې ... زمـاد نار وغی نه یی هم خبره که ... موری زما غم مه کوه زه زن بیخی جوړیم ...

هغی د مرجان سره خپلی خبری په همدی ځای بس کړی اود بی بی کسره لاړه بی بی د کوتـی په سخکی پټاوی ته

په توشك ناسته وه او غټ بالښت ته يې تکيه کړې وه په څنګ کې ورته چاې ايښې وې په خيال ، خيال يې پياله پورته کوله چې کمکی ورته په مخکی ودريده په غوسه ، غوسه يې ورته وکتل خو کمکی ژړا په لاسونو وورته پريوته او ښکل يې کړل خو يې يې لاهماغسې په غوسه وه اوويې ويل :

- دادې ور ځې ته اوزوی دی چيرته ورک وی تاسو خو يمخې سراخښتی دی پدسن ، سن نه مړ يسری خو کارته سوملا ما ته ده بلادی ووهه

کمکی چې له ويری ريږ ديده په ښتی لهجه يې وويل :

- بی بی بلادی واخلمه دزمری په سرمی دی قسم وی چې زوی مې ډير نار وغه دی دهغه سره بنده پاتې شومه .

بی بی به کمکی ته سپکی سپورې کولی او کمکی به ورته زاری اوخوشامندی او کله چې بی بی په کنځلو او سپکو سپور وسترې او غوسه يې کمه شوه نو کمکی چارو په لاس کی واخسته تول انګړ يې جارو کړ او هم بی هغه تول ګارونه سرته ورسول چې بی بی ورته په ګوتو کړی و .

پەکیبردی کی

کارونه چې خلاص شونو دبې بې پسه اجازه بیرته کورته راغله دمرجان سرته ودریده هرخومره چغې او نارې یې چې وکړې خود مرجان دخولې نه غږ نه پورته کیده چې ورته دې شوه اوسریې پرې ورته کړه یې لیده چې دمرجان وروستۍ سلګۍ ده اوکمکۍ یووار چغې کړې او خپل سرته یې سوکان ونیول .

دمنی دلومړ یوو رڅخود سیلیو و لګیدل پیل شوی وو
دونو او بوتو پانې ورو ، وروژپړ یدلی اوخپله تازه ګی
بې دلاسه ورکوله . په دښتو کې غاتول او نور غرنی
اوسارانی ګلان لادمخکی نه رژ یدلی وو پا نې یې
دبا ددا لوتوا و لګیدو سره هری خواته ځغلیدلی په ځینو باغونو
او چمنونو کی دغوتیو له شونه ونه مسکا تښتیدلی وه .
دونو او ځنودځا نګونه ځینې ژ یړی پانې را ټیلیدلی
اوله سیلیو سره پورته ، تور ته الوتلی . دا سمان په

لمنو کی خړی وریځی سر گردانه گرځیدی اوخپل وزرونه یی دغر ونو دپاسه غوړول. کله ، کله بسه لکه دنا پلده لاروی اومسا پرغوندی وخوځیدی اودختیځ نه به یی لوید یدیځ ته ستومانه اولالهانده مزلونه کول نو ځکه دسر وسیمونه تودوپر خوته دکوچیا نودکډولیږ دیدل اوکوچیدل پیل شوی وو .

د (لالك) کوچی کنده دخپلو نورو دری گاونډیانو سره ددری شپو اوور ځوا وپده مزل وروسته دهغی غونډی اړخ ته را ورسیده چی هرکال یی په همدی وخت هلته اړول .

هغوی خپلی توری کیږدی دیوا وبل نه څو ، څوگامه لیری ددغی غونډی په لمنه گی لکی او پلنی کړی .

د (لالك) سره دکیږدی د درو لوا ولو ښوخو ندې کولو په کار گی دهغه میرمنې (زرکسی) هیڅ مرسته و نه کړاې شوه هغی خپل یو نیم کلن زنځور زوی پسه ځیږکی تې ته اچولی واوژر ،ژریی په دواړو لاسونو خوځاوه چی کله به یی سر راپورته کړخپل میره اوخپلی لور (کلد اړې) ته به یی دکالـه دلوښود ایښودلو پسه برخه کی څه وویل اوغلی به شوه .

دهغی په تیو نو کی شېدې نه وی نسوځکه یی ورسره

رنځور زوی ځیل کړاوه اوژر ، ژړېی پرېښو دل اوله لوړی به یی په ژړا لاس پوری کړ . د (لالک) سره یی لورسمه په کار لګیا وه او داسی چا بك چابك ګاړېی ګاوه لکه چې دخپلې مور برخه کار هم کوی.

د ګیږدی ددرو لو او لوښو ایښود لو کار چی پای ته ورسید نو کلدا ری دخپل پلار په غوښتنه د ګیږدی په مخکی دتیرو نه نغری جوړ کړ او دپچو او بوتو نه یی پکی اوربل کړ اودژی نه یی او به را واخستی اوتور چای جوش یی په نغری ګیښښود .

کلد اره ګیږ دی ته ننوته خو ښیرته دېره ټسر وره راووته اود مورنه یی پو ښتنه وکړه:

ـ ا ېی چای دی چیرته ایښی دی ماخوښید انه کړه.

هغی ورته دلاس په اشا ری دخا متا د توتی یوه ګنده وښودله . بیګا نی سیلی لاهما غسی لګیده اود ګیږ دی د پیځوړ ځنډی یی پورته ، پور ته غور ځولی .

(لا لك) د پرستړ ی ښکار یده لمځی یی خسور کړ او پری ګښینا ستە ،سر یی دزنګنو نوپه منځ کی ننویست او ځا نته یی دخیا لو نود نیا جوړه کړه .

هغه ورم اولا ورم کال ددوه درد ونکواو بو ګنونکو پیښو سره مخامخ شوی و .

اول کال یی په میږ ومړ ځ ولګید تولی مړی شوی اودر سی نه خلاص شواودوم کال یی بیاز لمسی زوی چیرته په لاره پهښ له کی گرمی اوجل وواهه اومړ شو. دده ملایی ورما ته کړه اوزړه یی ور ته سوری گړ .هغه ته په غوچو رتو نو کی کله دخپلی رمی توری، سپینی،خړی اوسری میږی ورپه پسادشوی او دهغوی پسی به شو ،په دښتوکی به یی پیولی اوکله به ورته دخپل زلمی زوی (خانمیر) دنگه و نه لوړه پوزه، تورنری بریتونه سترگوته و دریدل نوساړه اوسیلی به یی دخیالو نواوار مانو نونه راتاوشول بی اختیاره به یی له ځان سره پټ وژړل اوله خولی به یی ووتل: -وی خدایه ذارابا ندی څه وشول ؟ څومره ښه زوی می و....

کلد اری ورته دچای نه دکه بی کونډی پیاله چی غاړی یی ماتی وی دگوړی دتور کنډوکی سره په مخکی کیښوده .لالك سترگی پورته کړی کلد اری ته یی په خوا ږه نظروکتل اوویی وویل :

- کلد اری بچی چای دی راور ؟

-هوا با .

دکلد اری مور (زرکی) هم دچای پیاله په لاس کی

نیولی وه اوخپل رنځورزوی ورته په غیږ کی ژړیدده اوزګیرو یده دپرله پسی زګیرو یو په منځ کی به یی کلك، کلك توخی پورته شول .

مور به یی دهغه دزګیرو یواوتو خیو سره خپل سازه اوسیلی مګری ګړه سر به یی پری ورتیټ کړاود شوندو لاندی به یی څه وویل

لا لك خپله شړی څنډ وهله اوپه ګیږ دی رانسوت ویی وویل :

-نه پو هیږم چی سباته لرګی بازارته یوسمه او کهنه ځکه او بله دځوور څو مزل ستړی ګړی ده دیسوی سیاشتی راهسی ناروغه ده اوورځ په ورځ دنګریږی وایښه نه خوری کـه بازار تـه لاړ نشمه هـم چـاره نشتـه . لومړی (زرکی) اوبیا (کلداری) ورته وویل:

-موږ کړه مالګه اواوړه خلاص شوی اواوړه خوتو اپله هډ وسره اروچی سبا تری جواری پوخ کو دپور خواوهم هغسی چل دی ؟

دهغی مقصد لدی خبری داو چی ګاونډ یا نونه یـی نشی غوښتی ځکه دهغو سره یی څوورځی مخکی به لاره په کومه خبره خوابدی راغلی وه د (لالك) دمخ اوتندی

گونځی سره نږدی شوی نو په خواشینو نکی تو گه یی وویـل :

- هرځنګه چی کیږی سبا به دخرڅا نه له پاره بازارته لږ گی ورځه .

دا یی وویل اود کیږدی له سخی نه یی په یو څخلنده نظر دخپلو گاونډیانو کیږ دی ته وګتل دزر کی زړه نه کیده چی ورته یی یا ده گړ ی خو دزړه په زوریی ورته وویـل :

- د کلد اری پلاره دښار نه دوسره یوځو گولی هم راوړه (سپین گل) دپاتی کید ونه دی .

د(لالك) په سپیرو اووچوشولو باندی د خواشینی څپی خپل سیو ړ ی و اچو یو سوړ او سیلی یی وویست اوخه یی ونه ویل :

سبا دچړ گ بانګ سره سم پورته شو په تاروغی اوچی باندی یی د لږ گیو بارو تړه اوپو کلك سوړسك یی ترسلا گړاود بازار خواته روان شـو .

د تیرو ورځی بادلاهماغسی لګیده اوهری خوا ته یی دوړی اوګردونه پورته کول او هم یی د لالك د زړی او خیټنی پګړی ولونه ژړ،ژړ ورانول او شړی به یی

ورته له اوږو غور ځوله. هغه ته لادوه ساعته مزل پاتی وچی په لویه دښته کی ورته رنځوره اوښه دبارلاندی په ځمکه راولیده اوسریی په خاورو کیښوده.

(لالك) چی هر څومره په لغتوو هله، دلکی نه یی ونیوله ویی خوځوله اودلر گیو بار یی ترینه لیری کړ خواوښه پورته نه شوه اوورو، ورو له خوځید واوپاځیدو ووتله. هغه ورته لاس ترزنی خپه او حیران کښینا سته په جیب کی یی لاس ومنله چی چا کورا اوباسی اوحلاله یی کړی خوچا کو ورسره نه ویوشیبه وروسته داوښی ساه وختله اومړه شوه. (لالك) لرگـــی او اوښه په دښتی کی پرینبو ده دسړو او سیلیو اوږ یرواند ینبنو سره یو ځای بیرته په خپلی توری کیږدی رانغوت ښځه اولور یی ورته حیران پاتی شو په حیرانتیا اووار ختا یی ترینه پورښتنه وکـــړ.

ـ اوښه دی څه کړه؟ څنگه ژربیرته راغلی! تا سره خومالگه اواوړه نشتـــه. ؟

دهغه ژبه له ډیره غمه بنده بنده کیده له خبری یی نه شوی کولای ستر گی یی له اوښکو نه ډکی وی، اوسیلی یی له خولـی وتل همد وسره یی دزړه په زور وویـــل:

ـ اوښه اولرګی دواړه په دښتی کی پاتی شول دا راته وو ایـه چی (سپیـن گـل) څنګـه دی ؟

د زرکی په ستر ګو کی اوښکـی وګرځیـدې اوغټ ،غټ څا څکی ترینه پـه تورو خاورو کی راتوی شـول د یوسوړا وسیلـی سره یی وویل :

- سپین گل خو ...

او یووارپه کیږ دی کی ژړا جوړه شـوه اوتوله فضا چغوو نیوله .

PROPERTY OF ACKU 4568

حبیب الله زړه سوا ند په ۱۳۲۱ هـ ش کال کی د ننګرهار شینوارو دهسکی مینی په ولسوالی کی زیږیدلی ترشپږم تولګی پوری زده کړه یی د شپولی په ښوونځی کی اوتردولسم تولګی پوری زده کړه یی په حربی ښوونځی کی سرته رسولی ده او په ۱۳۴۳ کال کی له حربی پوهنتون څخه فارغ شو .

دوه ځلی دلوړو تحصیلاتو له پاره هندوستان ته استول شوی او هلته یی هم خپل تحصیلات په بریالیتوب اوښه درجی سره پای ته رسولی دی.

د ۱۳۳۹ کال راهیسی یی مقالی ، کیسی ، ادبی ټوټی او شعرونه د مرکز او ولایاتو په خپرونو کی خپریږی هغه وخت چی په خپلی وظیفی برسیره د عبدالحی ګردیزی په لیسه کی ښوونکی و نو یو شمیر ډرامو نه یی لیکلی چی دنو موړی لیسی دزده کوونکو له خوا دستیج په سر ښودل شوی . په بهر نیوز پوکی په انګلیسی خبری او لیکنی کولای شی او په اردو هم یوځه پوهیږی دا یی د لنډو کیسو لومړنی چاپی مجموعه

دهځینی نورمسلکی اوادبی آثارهم لری چی تراوسه لانه دي چاپ شوی.